د اداری فساد پر وړاندی د ثارنی او ارزونی

خپلواکه اوګډه ګډه کمیته

کمیته مستقل مشترك نظارت و ارزیابی

مبارزه با فساد اداری

INDEPENDENT JOINT ANTI-CORRUPTION
MONITORING AND EVALUATION COMMITTEE

# د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په اړه د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان د اړونده مادو د پلي کېدو په اړه رپوټ

کابل، افغانستان

د ۱۳۹۱ کال د کب د میاشتې ۲۳مه نېټه

## اجرایي لنډیز

د ولسمشر ۴۵ ګڼه فرمان د یو لړ داسې پراخو نوښتونو څرګندوی دی که په سمه توګه پلي شي، کولی شي په افغانستان کې د حکومت د اداري چارو د سمبالولو او د اداري فساد د پیښو د مخنیوي، کشف او د هغو د عدلي او قضایي پلټنې په برخه کې مثبتې اغیزې ولري. نوموړی فرمان ۱۶۴ مادې لري چې ۳۳ اړونده مؤسسو ته لارښوونې کوي چې ډېر پراخې برخې په ځان کی رانغاړي. او د هغو ډېری یې د هغو سپارښتنو او بنچمارکونو سره ورته والی لری چې لا د مخه د اداری فساد پر وړاندی د څارنې او ارزونې د خپلواکې او ګډې کمیټې لخوا صادر شوې دي. په دې بنچمارکونو کې د ملکي خدمتونو د کارکونکو په کارګومارلو کې لاس وهنې یا مداخلې، د پیرودنو یا تدارکاتو د قانون تعدیلول ، د لوړ پوړو دولتي چارواکو د شتمنیو تصدیقول، د کانونو د اړونده تړونونو خپرول او د ځمکو د لاندی کول اړونده چارې راځي.

د چارو د اداري عمومي ریاست د ۲۰۱۲ کال په اکتوبر کې څرګنده کړې چې د اړونده مادو غوڅ اکثریت د هغه رپوټ له مخې چې له پلي کېدونکو ادارو څخه د چارو د اداري ریاست ته رسیدلي، پلي شوې دي. دا خبره ښایی له تخنیکي انده سمه وي، خو د ۴۵ ګڼې فرماند اړونده ډېری مادې د خپل ماهیت له مخې طرزالعملي یا تیوریکي بڼه لري چې له اړونده پلي کونکو ادارو څخه غواړي چې د سپارښت شوو چارو د پلي کولو له واقعي غوښتنې پرته د وزیرانو شورا ته یو کاري پلان یا رپوټ وړاندې کړي.

د چارو د اداري عمومي ریاست مؤظف شوی چې د حکومت په استازیتوب د نوموړي فرمان د پلي کېدو له څرنګوالي څارنه وکړي او هغه وزارتونه چې د فرمان د پلي کېدو دنده په غاړه لري باید د چارو اداري ته رپوټ ورکړي. خو د چارو اداره د هغو رپوټونو د هر اړخیزې څیړنې، ارزونې او تایید لپاره چې له اړونده وزارتونو نه یې ترلاسه کوي اړینې سرچینې په واك کې نه لري.

په دې توګه د اداري فساد پر وړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې په خپلواکه توګه د نوموړي فرمان د اداري فساد د اړونده مادو د څارلو اړتیا په ګوته کړی. یادې شوې کمیټې داسې ۳۸ مادې په ګوته کړې چې په افغانستان کې د اداري فساد سره د مبارزې لپاره نورو ډېرو هڅو ته اړتیا لري. له دې جملې نه ۲۷ مادې باید له ۱ – ۳ میاشتو په موده کې ( د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر تر ۲۶ نیټې) پورې، ۹ مادې په ۶ میاشتو ( د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ د میاشتې تر ۲۶) نیټې پورې پلې شي. دوې پاتې مادې کومې وروستۍ نیټې یا ضرب الاجل ته اړتیا نه لري.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه د څارلو د کړنو په لړ کې په دې بریالۍ شوه چې اداري فساد پروړاندی د مبارزې د یو شمیر مادو په اړه تفصیلي ارزونې تر سره کړي، خو د ځنو نورو مادو په اړه دغه کړنی د ځنې لاملونو له وجې چې په هغو کې د همکارۍ نشتوالی او په تیره بیا د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره کمزوري اړیکي یا ارتباطات هم راځي، محدود وو. په عمومي توګه د کمیټې اړونده ارزونو داسې ګډې پایلې څرګندې کړې چې د ډېرو اړونده نوښتونو په لمړنیو پړاونو کې د نورو نوښتونو د نه پرمختګ او نه روښتیا په پرتله څه پرمختګونه هم تر سترګو کیږي. د په ګوته شوو ۳۸ مادو له ډلی څخه ۸ مادې (۲۱ ٪) په بشپړه توګه پلې شوې، ۲۳ مادې (۶۱ ٪) په قسمي توګه پلې شوې او ۷ مادې (۱۸ ٪) پلې شوې نه دي.

## I. سریزه

د ۲۰۱۲ کال د جولای د میاشتې په ۲۶ نیټه د افغانستان د اسلامي جمهوریت جلالتمآب جمهور رییس د حکومتي اداري د ښه والي او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په موخه یو لړ پراخه اقدامات اعلان کړل. ۴۵ ګڼه فرمان ۱۶۴ مادې لري چې ۳۳ اړونده مؤسسو ته د هغو د پلي کولو لپاره له ځانګړو زماني مهالوېشونو سره لاربنووني لري چې له هغې جملې نه ۱۹ مادې د یوې میاشتې له وروستۍ مودې سره، ۳۱ مادې د دوو میاشتو، ۴۳ مادې د دریو میاشتو، ۴۹ مادې د شپږو میاشتو له وروستۍ نیټې سره ځانګړې شوې دي او پاتې ۲۲ یې رواني چارې دي.

نوموړي فرمان ته د حکومت له لوري د داسې یو میکانیزم په سترګه وکتل شول چې د هغو په پلي کیدو سره به حکومتی اداره ښه والی و موموميې، د اداری فساد په وړاندې مبارزه به اغیزمنه او ګړندۍ شي، د قانون واکمني به ډاډمنه او له اقتصادي پلوه به په خپل ځان د هیواد د بسیا کیدو کچه لوړه شي. که چیرې په ۴۵ ګڼه فرمان کې نغښتي نوښتونه پلي شي، نو په یقیني توګه به د افغانستان د حکومتی ادارو په اړونده چارو کې ښه والی رامنځ ته شي او د اداري فساد له مخنیوي، د اړونده پیښو له کشفولو او د مجرمانو له مجازاتولو سره به مرسته وکړي. د اداری فساد پروړاندی د څارني او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې ډېر ژر په عامه او علني توګه په فرمان کې د نغښتو کړنو یا اقداماتو هرکلی وکړ. په دې برخه کې د بریالیتوب راز لکه د نورو چارو په څیر، د فرمان د مادو په اغیزمنه او ماهیوي پلې کیدنه کې نغښتی دی.

د چارو د اداري د څارني او ارزوني څانګې چې د دولت په استازیتوب د ۴۵ ګڼې فرمان د پلی کیدو څخه د څارني دنده په غاړه لري، د خپلو اړونده کارکونکو شمیر یې له ۱۷ کارکونکو نه ۳۵ کسانو ته لوړ کړ. سربیره پردې د اړونده وزارتونو او ادارو لخوا او په همدې توګه یو کس د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیتې د سکرتریت لخوا له هغوی سره د اړونده چارو په اجرا کې مرسته کړې. د هرې دولتي اداري د پلټنې او څارنې په موخه د نوموړې څانګې لخوا یو پلټونکی په کار ګومارل شوی. نوموړي پلټونکي هره اونۍ د اړونده وزارت د کادر او پرسونل له عمومي آمر (chief of staff) او اړونده معین سره غونډې دایروي چې د هغو په ترځ کې د اجرایی پلانونو او اړونده پرمختګونو په اړه بحث کوي. نوموړې غونډې د هرې دوشنبې په ورځ دایرېږي او د چارو د څرنګوالي رپوټ د هرې چارشنبې په ورځ پرته له دې چې وکتل شي اړونده ماده پلې شوې که نه، ترلاسه کیږي. د چارو د اداري د عمومي ریاست د اړیکو مسؤل (focal point) نوموړي رپوټونه لولي او د چارو د د څرنګوالي د وضعیت په اړه له اړونده وزارت سره خبرې کوي او ترلاسه شوي معلومات د هغو څلورو سکتورونو د مشرانو یوه اړونده مشر ته سپاري چې د چارو د اداري په عمومي ریاست کې تشکیل شوي. د نوموړو سکتورونو مشران ترلاسه شوې پایلې د رییسانو په کچه یوه لاربنودې کمیټې ته چې مشري یې د چارو د اداري د څارني او ارزوني د څانګې عمومي رییس په غاړه لري، د یوه رپوټ په بڼه تنظیموی. وروسته بیا دا معلومات په یوه رپوټ کې د ولسمشر د کتنې لپاره توحید ېږي.

د چارو د اداري عمومي ریاست څرګنده کړې چې دوی له اړونده وزارتونو نه د ټولو ترلاسه شوو رپوټونو د تصدیقولو وړتیا نه لري او په دې هم نه پوهیږي چې نوموړي رپوټونه کره دي او که نه. دوی دا هم څرګنده کړې ده چې امنیتي وضعیت د دې اجازه نه ورکوي چې د ارزونې ډلې یا ټیمونه د اړینو ارزونو د په لاره اچولو په موخه له ټولو ولایتونو څخه لیدنه وکړي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کميټې د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان د پلي کيدو د څارنې په لړ کې ګڼ شمير مرکې او د سرچينو يا اصلي اسنادو د کره والي په اړه آزموينې په لاره اچولي دي. کميټه دې پايلې ته رسيدلې چې د نوموړي فرمان هره ماده د کړنلارې يا پاليسۍ په اړوند يوې ځانګړې ستونزې ته متوجه ده او په دې توګه ګډې کميټې اړونده مادې له کيفيتي انده له دې امله و ارزولې چې د هغو پلي کيدل به دا په ګوته کړی چې دولت په دې اړه بريالی وو او که نه.

د دې رپوټ اصلي برخه چې په ۲ مل پاڼه يا ضميمه کې ښودل کيږي، په ۴۵ ګڼه فرمان کې د نغښتو مادو يو موضوعي او ماده په ماده تحليل او ارزونه برابروي

د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کميټې د خپلو ارزونو په ترڅ کې له بده مرغه نه يوازې ونه شوی کولی چې ټول هغه رپوټونه ترلاسه کړي چې د اړونده وزارتونو لخوا د چارو د اداري رياست ته سپارل شوي، بلکه هغه کړنلارې يا پاليسۍ، ستراتيژۍ او رپوټونه هم ترلاسه نه شوای کړای چې بايد د دندو او مسؤليتونو له مخې د وزيرانو غونډې ته ترتيب شوي وای. دغه محدوديت د کميټې د ځنو ارزولو ژورتيا اغيزمنه کړې ده.

## II. د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د اړونده مادو څارل

### عدالت او معافيت

د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې د خپلواکې او ګډې کميټې په ګوته شوو لومړيتوبونو کې يو هم دا دی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې عدالت مسلط او برلاسی دی او دا چې د ناقانونه کړنو لپاره د معافيت مخه نيول کيږي. معافيت معمولا له ناتوانۍ يا د عدالت د هغه سيستم له نه غوښتلو سره تړاو لري چې د ناقانونه کړنو قانوني او عدلي تعقيب ترسره او مرتکبين يې مجازات کړي او دا چاره په افغانستان کې د اداري فساد پر کچې خورا ډېر اغيز لري. اداري فساد د يوه غښتلې مخه نيونکې او غښتلي عدلي قضايی غبرګون د نه موجوديت او د مجازاتو او ځواب ورکولو نه د وېرې په نه شتون کې نور هم غوړيږي

***د افرادو غير قانوني توقيف د پښتنو او ګروېږنو او د اړونده دوسيو د عدلي او قضايی پلټنې په برخه کې د پراخه تشوا څرګندويی کوي***

د فرمان د ۶ مادې ۱ فقره د لويې څارنوالۍ له اداري څخه غوښتنه کوي چې د ټولو توقيف شوو کسانو دوسيې ولولي، د مدارکو او شواهدو له شتون پرته د توقيف مخ نيوی وکړي اوعدلي او قضايی کميټې ته دې د توقيفيانو يو داسې بشپړ لست ترتيب کړي چې په هغو کې د دوی د تورونو تفصيل موجود وي. د څارنوالۍ اداري په دې اړه د چارو اداري ته رپوټ ورکړی چې دا ماده په بشپړه توګه پلي شوې، خو د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونی د خپلواکې او ګډی کميټې استازو د بشري حقوقو له خپلواك کميسيون او د کابل د توقيف له مؤظفينو سره په دې اړه خبرې کړې، چې څرګندوي پورتنۍ ادعا سمه نه ده.

د لویې څارنوالۍ د اداري د رسمي رپوټونو له مخې د کابل په ښار کې د توقیف شوو کسانو شمیر ۱۰۱ کسه دی، په داسې حال کې چې د کابل د توقیف آمریت د توقیف شوو کسانو شمیر د ۴۵۰ [۱]کسانو شا او خوا رپوټ ورکوي. کمیټې داسې معلومات هم ترلاسه کړي چې څرګندوي، لږ تر لږه ۴۹ کسه یا د کابل په توقیف کې د توقیف شوو کسانو ۱۰ ٪ د هغه مقررې په خلاف ساتل کیږي چې د توقیف ځایونو لپاره تدوین شوې ده. دا په دې مانا ده چې ۱۰ ٪ توقیفیان د کافي زمینو پرته ساتل کیږي چې دا په عدلی او قضایی سیستم کې د سیستماتیکو سرغړونو ښکارندویی کوي.

د کابل د توقیف آمریت وایی چې دا موضوع لا دمخه د لوېې څارنوالۍ اداري او اړونده محکمو ته رسول شوې ده خو په دې اړه کومې اړینې څیړنې نه دې تر سره شوې. په ستره محکمه کې د پلټنې یا تفتیش د څانګې استازې وایی چې دوی د کابل د استیناف محکمې ته وروسته له هغې یو لیك استولی چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونیث خپلواکی او ګډې کمیټې لخوا ورته د کابل په توقیف کې د توقیفیانو یو لست برابر شو. د نوموړې څانګې د استازو د ویناوو له مخې، ډیری کسان ځکه په توقیف کې ساتل کیږي چې د هغوی مدافع وکیلان ځواب نه ورکوي او یا دا چې د محکمې د دایریدو په نیته کې ځنډ پیښیږي.

په دې سربیره د استیناف محکمې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او کمیټې ته ډاډ ورکړ چې دوی به په دې اړه چټك اقدام او د قانون سره سمه پریکړه وکړي. د توقیفیانو د اړونده لست د برخلیك د څرنګوالي له پیدا کولو وروسته یې په تعقیبي کړنو کې دا څرګنده شوه چې د استیناف اداري د استیناف څارنوالۍ ته په دې اړه یو لیك استولی دی تر څو نوموړې اداره اړونده هغه محکمې تشخیص کړي چې د تورنو یا متهمو کسانو دوسیې په کې پاتې دي.

وروسته له دې چې په کابل کې د ناقانونه توقیفونو کچه بربنډه شوه، د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې هم د افغانستان ولسمشر ته یو لیك ولیږه او دهغو په ترځ یې نوموړی له دې خبر کړ چې خلك په توقیف ځایونو کې پرته له کوم واضح یا رڼه برخلیك نه ساتل کیږي. له دې وروسته ډیر ژر جلالتماب ولسمشر د ۲۰۱۲ کال د ډسامبر په میاشت کې یو بل فرمان صادر کړ او د هغو په ترځ کې یی ټولو اړونده ادارو ته لارښوونه وکړه چې اړونده موضوع دی تر غور لاندې ونیول شي او د موجودې ستونزې په لرې کولو کې دې اقدام وکړي. اړونده ادارو دې فرمان ته د هغه ګڼ شمیر توقیفیانو په خلاصولو سره په چټکۍ غبرګون وښود چې په ناقانونه توګه په بند کې ساتل کیدل. د هغو ۴۹ کسو له جملې څخه چې د کابل په توقیف کې تشخیص شوي وو، ۱۲ کسه یی لا اوس هم په توقیف کې دي، ۱۰ کسو یی برائت واخیست، ۲۴ کسه یی نورو نظارتخانو یا څارنتونونو یا زندانونو ته بدل کړی شول او ۲ تنه یی د محکمې له لوري محکوم کړی شول.

په همدې توګه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او کمیټې د هرات په نظارتخانه کې، چیرته چې تورن کسان د قانون خلاف معمولاً د یوې میاشتې لپاره ساتل کیږی، ځنې څیړنې او ګروېږنې تر

[۱] دا شمیره د رپوټ د نیټې نه د یوه فوري انځور د اخیستنې څرګندویه ده. د توقیفیانو شمیر ورځ تر ورځې په نوسان کې دی.

سره کړي. دا په داسې حال کې ده چې د قانون د احکامو له مخې تورن کسان هلته یوازې د ۷۲ ساعتونو لپاره ساتل کیدی شي. د فرمان له صادرېدو وروسته د هرات د نظارتخانې د مامورینو د هڅو په پایله کې او د هغه هوکړه لیك سره سم چې د ښارنوالۍ د ادارې او نظارتخانې د مرکز تر منځ لاسلیك شو، نوموړې موده شپږو ورځو ته محدوده شوه. د دې اقداماتو عملي پایله دا شوه چې د هرات نظارتخانې له تیر مهال سره په پرتله چې له ۱۰۰ ډېر کسان تر نظارت لاندې بندیان وو، د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ له میاشتې وروسته یوازې ۳۰ کسه توقیفیان تر نظارت لاندې لرل.

د دې په بدل کې، د هرات نظارتخانه له سترو ستونزو سره مخامخ وه. د هغو معلوماتو له مخې چې د هرات د نظارتخانې د مرکز لخوا برابر شوي، د هرات د نظارتخانې په مرکزي ودانۍ کې څه ناڅه ۴۸۰ داسې کسان په توقیف کې دي چې اړونده دوسیې یې د سترې محکمې لخوا ځنډول شوې یا په تعلیق کې اچول شوې دي. په دې دوسیو کې هغه توقیفیان هم شامل دي چې د ۵ کلونو لپاره په بند کې ساتل شوي او اوس هم د قضایي پرېکړې منتظر دي. د اړونده دوسیو د پړاونو د بشپړولو یا طی مراحل لپاره د سرچینو نه شتون د ناقانونه توقیف د یوه مهم لامل په توګه تشخیص شو. د یوه بیل زندان نه شتون هم د دې لامل دی چې توقیفیان دې د هغو بندیانو سره یوځای په بند کې وساتل شي چې د اړونده دوسیو په اړه یې د محکمو لخوا پرېکړه شوې او دوی په بند محکوم شوي دي.

***ستره محکمه کولی شي چې د وروسته پاتې شوو دوسیو په تیره بیا د اداري فساد د اړونده دوسیو د پرمخ بیولو یا د پړاونو د بشپړولو په باب یو رغنده جوړونکی رول ولوبوي***

د فرمان د ۱ مادې ۲ بند له سترې محکمې څخه غوښتنه کوي چې ټولې پرانیستې دوسیې نهایی او فیصله کړي. سترې محکمې هم په خپل وار سره د دې فرمان په اړه یو لړ کړنې او تدابیر تر لاس لاندې نیولي دي. په ځانګړې توګه، سترې محکمې د دې محکمې د پلټنې یا تفتیش د څانګې تر مشرۍ لاندې یوې کمیټې ته دنده سپارلې ده تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د فرمان غوښتنې پوره کړی شوې دي. په دې کمیټه کې د عدلیې وزارت، د چارو د ادارې، د لویې ښارنوالۍ د ادارې، د کورنیو چارو د وزارت او د ملي امنیت د لوی ریاست استازي ګډون لري.

سترې محکمې په محکمو کې د ټولو دوسیو په اړه ځنې شمیرې یا احصاییې ټولې کړې دي چې په هغو کې ټولې ۱۷۵۷۰ دوسیې پرتې دي چې د هغو له جملې نه ( ۱۰۲۶۶ جنایی، ۶۵۳۴ مدني، ۴۷۵ د اداري فساد اړونده دوسیې، ۲۸۳ د دولتي ملکیتونو د لاندی کول او ۱۲ دوسیې د ځنځیري وژنو) دوسیې دي. د دوسیو د تراکم د مخنیوي لپاره سترې محکمې لاندې تدابیر تر لاسه لاندې نیولي دي:

1. د افغانستان د بیلابیلو محکمو سره د موجودو دوسیو په اړه د شمیرو ټولول؛
2. د فیصله شوو یا د محکومیت د صادرېدو د اړونده دوسیو په اړه د رپوټونو ترلاسه کول او په اړونده محکمو کې د موجودو دوسیو د کار تسریع کول؛
3. د هغه محکمو تشخیصول چې اړونده کارونه یې وروسته پاتې دي او د مسلکي کارکونکو ګمارل ؛
4. د مظنونو او تورنو یا متهمو کسانو د موقف په اړه د پرېکړې کول؛

5. د بانفوذه کسانو د مداخلې او لاسوهنې په اړه د معلوماتو را غونډول او د دا ډول لاسوهنو د مخنيوي لپاره د رغنده ګامونو پورته کول؛ او
6. د وړاندې شوو پلانونو د وضعيت په اړه د معلوماتو راټولول او د محکمو لخوا د اړونده پرېکړو په اړه د ټاکل شوې کميټې لاربښوونې.

د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان له صادرېدو کابو ۷ مياشتې وروسته، ستره محکمې د پرانيستل شوو قضيو يا دوسيو شمير له ۱۷۵۷۰ نه ۱۰۰۰۰ دوسيو ته را ښکته کړی دی. سره له دې نوموړې محکمې يادونه کړې چې د اړونده محکمو په وړاندې ځنې خنډونه او ستونزې شته چې د هغو له وجې نشي کولی د ځمکې په لاندی کول تورن کسان چې ډېری يې د ځمکو مافيا، دولتي چارواکي يا يې خپلوان دي، د قانون منګلو ته وسپاري

په همدې توګه ستره محکمې يادونه کړې چې د قضيو د پراونو بشپړول داسې يو بهير دی چې په هغو کې د ټول عدلي سکتور اړونده اداري لکه ترټولو مهمه، د لويې څارنوالۍ اداره، ښکيله وي. نوموړې محکمې ويلي چې په کابل کې د ډېريو قضيو د تعليق او ځنډېدلو لامل د لويې څارنوالۍ سوکه يا بطې اجراات ګڼل کيږي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کميټې استازو له ځنې څارنوالانو سره مرکې کړې او د هغو په ترڅ کې يې دا څرګنده کړې چې که څه هم څارنوالان د قانون له مخې د دې واك لري خو څارنوالان د کافي شواهدو د نه شتون په صورت کې اړونده دوسيې نه شي فيصله کولی. د لويې څارنوالۍ اداره دا ادعاوې چې ګواکي دوسيې هلته ځنډول کيږي نه مني، او برعکس وايی چې ستره محکمه کافي بشري سرچينې نه لري.

له دې مشاجرې او شخړې سره سره، دا روښانه ده چې دواړه نوموړې اداري په مسلکي او اغيزمنه توګه د اړونده دوسيو د پړاونو په بشپړولو کې مهم رول لوبوي، نو د متقابلې همکارۍ د کچې لوړتيا به دا خبره ډاډمنه کړي چې دوی خپل اړونده مکلفيتونه په ښه توګه ترسره کړی. په دې اړه د اړونده دوسيو د سمبالولو او د چارو د همغږۍ ميکانيزمونه يا جوړښتونه ډېرې ښې وسيلې چې د دې چارې ترسره کول ډاډمنوي.

***د افغانستان د هوايي ډګرونو له لارې د نغدو پيسو د قاچاق اړونده په اغيزمنه توګه نه ده پلې شوې، نوموړې کړنلاره بايد د اړونده هڅو د دېرېدو او اغيزمنتيا په موخه پياوړې شي.***

د ۴۵ ګڼې فرمان د ۲۰ مادې ۱ بند له د افغانستان بانك څخه غواړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د هيواد د هوايي ډګرونو له لارې، له هيواد نه بهرته د نغدو پيسو د وتلو د مخنيوي اړونده کړنلاره پلې او په پرله پسې توګه تر کتنې او مرا قبت لاندې ده. د نوموړې کړنلارې د پلي کيدو په موخه د افغانستان بانك له سرحدي پوليسو او د ګمرکي خدمتونو له ادارو سره يو هوکړه ليك لاسليك کړی او د مالي استخباراتو څانګه په هوايي ډګرونو کې يو استازی هم لري.

د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې، سرحدي پوليسو د امريکې د نړيوالې پراختيا د اداري (USAID) او نورو نړيوالو مؤسيسو په مرسته د پيسو وينځلو او د قاچاقولو د مخنيوي د اړونده لارو چارو په اړه د زده کړې روزنيز کورسونه په لاره اچولي دي. په همدې توګه دوی بيلابيل تدبيرونه ترلاس لاندې نيولي چې د نوموړې

کړنلارې د محتویاتو سره د اړونده کارکونکو د بلدېدو او د پیسو د قاچاقولو د پیښو د قانوني پلټنې په موخه د پوښتنو او ګروېږنو د طرزالعملونو د ښوولو له لارې د اړونده پولیسو د وړتیاوو کچه لوړه شي.

که څه هم سرحدي پولیسو د پیسو د لیږد د اړونده چارو د تنظیم لپاره په کړنلاره کې د نغښتو احکامو د پلي کیدو هر کلی وکړ، خو دوی د ځینو نا تعریف شوو ټکو په اړه هم خپلې اندېښنې ښکاره کړې. د بیلګې په توګه د اصلو پیسو او له سرحدونو نه د لیږد وړ د ۲۰۰۰۰ ډالرو د مجاز حد د سموالي د تصدیقولو لپاره د غوښتنې نه شتون. هغه معلومات چې د اداري فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې ته رسیدلي، څرګندوي چې ځنې سوداګریز شرکتونه له خپلو کارکونکو سره یو ځای دوبۍ ته یو لړ سوداګریز سفرونه سمبالوي او د هغو په ترڅ کې خپل هر کارکونکي ته ۲۰۰۰۰ ډالر ورکوي چې په قانوني توګه یې له هیواد څخه بهر ته ولیږدوي. پولیس نه شي کولی چې د دې پیسو اصلي سرچینه او اصلي خاوند وپیژني، چې دا د اندېښنې وړ یوه موضوع ده.

د اداری فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې ولیدل چې په هوایي ډګر کې د پیسو د شمیرلو ماشینونه په مناسبه توګه نه کارول کیږي، نوموړي ماشینونه په یوه تنګ او نا امنه ځای کې ایښودل شوي دي، چې په آسانۍ سره د لاسرسي وړ نه دی او د څارنې او مراقبت کومه وېډیویي کمره هم نه لري. د پیسو د شمیرلو ستر ماشین له انټرنټ یا کوم بل داسې سیستم سره نه وو نښلول شوی چې د اړونده مدارکو او معلوماتو د څارلو او ثبتولو وړتیا ورووښيي.

د اداری فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې ته خبر ورکړل شوی چې د کړنلارې د طرحې او د هغو د منظورېدو په پړاو کې د افغانستان بانك له هغو کسانو سره سلا مشوره نه ده کړې چې په نیغه توګه له سرحدونو نه د ناقانونه پیسو د لیږد د مخنیوي او د هغو د کشفولو دنده په غاړه لري. له دې امله د سرحدي پولیسو تجربې او نظرونه ټکي باید په اړونده کړنلاره کې ځای کړی شي تر څو د اړونده چارو په ترسره کولو کې د لوړې کچې اغیزمنتوب رامنځ ته شي. د افغانستان بانك باید له نږدې د اړونده هغه کاري ډلې سره کار وکړي چې له سرحدي پولیسو، ګمرکي کارکونکو، استخباراتو او نورو هغو ښکیل کسانو او ادارو نه جوړه شوې چې په نیغه او یا هم غیر مستقیمه توګه د اړونده کړنلارې د سند په پلي کولو کې ونډه اخیستی شي.

### *د څارنوالانو څارنه او مراقبت به د اداري فساد په وړاندې د زیانمنونکو ساحو کچه راښکته او د عدلي تعقیب د لارو چارو د اغیزمنتیا کچه به لوړه کړي.*

د عدلي اوقضایي سیستم د پیاوړتیا او د معافیت د مخنیوي یو مهم عامل د عدلي تعقیب اغیزمنتوب دی چې د لوی څارنوالۍ د اداري لخوا ترسره کیږي. له بده مرغه، د رپوټونو له مخې ځنې څارنوالان شته چې په اداری فساد کې ښکیل او له خپلې رسمي دندې ناوړه ګټه پورته کوي. د ۴۵مې ګڼې فرمان د ۶ مادې ۴ بند د لوی څارنوالۍ له اداري څخه غوښتنه کوي چې د سترې محکمې په خیر دې د څارنوالانو د فعالیت د څرنګوالي د څارلو او مراقبت لپاره د یوه دفتر د پرانیستلو په اړه یو ځانګړی کاري پلان وړاندې کړي.

د څارنوالانو د کار د مراقبت او څارلو لپاره بل تدبیر د فرمان د ۶ مادې په (۷) بند کې نغښتی دی چې د لویې څارنوالۍ له اداري غوښتنه کوي ترڅو ټول مسلکي او مرستندویه اداري پرسونل و ارزوي او په اداري فساد ککړ کسان دې تشخیص او له ځانګړو تدابیرو سره دې یو رپوټ د ولسمشر دفتر ته وړاندې کړي. د دې مادې د پلي کولو لپاره پرمختګ ته تر اوسه هم واټن شته.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې څارنیزی کړنی دا څرګندوي چې د لویې څارنوالۍ اداري خپل پرسونل ارزولی او ۳۰ کسان یی بیلابیلو ځایونو ته تبدیل کړي دي خو نوموړې اداري په دې اړه کوم دلیل نه دی څرګند کړی چې دا ګام یی توجیه کړي او د دوی اړونده رپوټ هم د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان د ۶ مادې د (۷) بند غوښتنې نه پوره کوي. په همدې توګه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه، په فساد ککړو کسانو د په ګوته کولو لپاره اړونده ګامونه د خوښۍ وړ نه ګڼي. دا نه یوازې د وروستۍ ټاکل شوې نیټې خبره ده بلکه په همدې توګه د دې ارزونې د ترسره کولو لپاره تدبیرونه او میکانیزمونه هم د منلو وړ نه دي. هغه رپوټونه چې په دې اړه د لویې څارنوالۍ لخوا برابر شوي، په هغو د دوی د ارزونې د ضوابطو او معیارونو تفصیل او په همدې توګه د مامورینو د تبدیلولو، د رتبې د تنزیلولو یا منفکولو دلیلونه نه شته. د یادولو وړ ده چې هغه لست چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټې ته برابر شوی، په هغو کې یوازې ټیټې پوړې مامورین شامل دي او نه لوړپوړې چارواکي. د کارکونکو د تبدیلۍ لپاره پیاوړو کړنلارو او ژمنو ته اړتیا ده تر څو ډاډ تر لاسه شي، هغه څارنوالان چې اړونده قضیې د عامه ګټو په پام کې نیولو سره فیصله کوي، په تصادفی یا غیر قانوني توګه له خپلې دندې څخه ګوښه نه شی.

د لویې څارنوالۍ د څارنې ریاست څرګنده کړې ده چې د ۱۳۹۲ مالي کال لپاره یوه بودیجه منظوره شوې ده تر څو د مراقبت او څارنې داسې یوه اداره تشکیل شي چې د پلټنو د ریاست په څیر دندې به ترسره کوي خو له پراخه واکونو او ګڼ شمیر پرسونل څخه به برخمنده وی. د دې ادارې د تشکیلولو لپاره اړینه بودجه د ملي شورا لخوا تصویب شوې او د لویې څارنوالې اداره په دې تکل کې ده چې ۵۰ – ۶۰ کسه مسلکي څارنوالان په دې اداره کې په کار وګوماري. د دوی دنده به دا وي چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د څارنوالانو په اړه د اداري فساد اړونده دوسیې تر عدلي او قانوني تعقیب لاندې ونیسي.

د لویې څارنوالۍ اداري په دې ټینګار کړی تر هغې چې د څارلو او مراقبت دا نوې اداره تشکیلیږي، نو د پلټنې د موجود ریاست د مرستندویه اداري کارکونکو شمیر دې ډېر کړی شي. د ۴۵ ګڼې فرمان له مخې ۱۰ کسه مسلکي څارنوالان د لویې څارنوالۍ د داخلي پلټنې د ریاست پراخولو لپاره په نوموړی ریاست کې په کارګومارل شوي دي. اوس په دې ریاست کې ۳۲ کسه مسلکي څارنوالان په کار بوخت دي او دهغوی دنده دا ده چې د لویې څارنوالۍ د اړونده کارکونکو اجراات و پلټی او وڅاري. د دوی د کاری پلان له مخې د دوی دنده دا ده چې په کابل او ولایتونو کې د لویې څارنوالۍ د اړونده ادارو اجراات تفتیش او وڅاري.

د پلټنې ریاست دنده لري چې د لویې څارنوالۍ د داخلی تفتیش د اړونده چارو په اړه لوی څارنوال ته رپوټ وړاندې کړي. دا څانګه د داخلي یا کورنۍ څارنې یا مراقبت او د هغو شکایاتو د څیړلو دنده په غاړه لري

چې ښارنوالانو په اړه موجود وي. په همدې توګه به د کارکونکو ورځنیو فعالیتونو څارنه او ارزونه ترسره کوي او ټول هغه جنایي تورونه لکه طرزالعملي ، اداري فساد او اخلاقي یا سلوکي ناوړه کړنې به څیړي.

د لویې څارنوالۍ د معلوماتو له مخې دغه څانګه په ډېره ښه توګه کار کوي، خو تر اوسه پورې د اداری فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې د دوی د اړونده کارونو په اړه د پرمختګ کوم رپوټ یا لاسته راوړنې نه دي ترلاسه کړي. سربیره پردې نوموړې ریاست د خپلو کړنو حدود او مکلفیتونه نه دي تشخیص کړي.

***د لویې څارنوالۍ تشکیلاتي نوی کول به د قانون د واکمنۍ لپاره د هڅو سره مرسته وکړي.***

د ۴۵ ګڼې فرمان د ۵ مادې (۵) بند غوښتنه کوي چې د لویې څارنوالۍ د قانون تعدیل شوی بڼه باید بشپړه شي. په دې اړه یو څه پرمختګ تر سترګو کیږي، ځکه نوموړی قانون د ۲۰۱۲ کال به اکتوبر کې د ولسي جرګې لخوا تصویب او اوس مهال د مشرانو جرګې د تقنین په کمیسیون کې تر بحث لاندې دی. نوموړی قانون د لویې څارنوالۍ د تشکیلاتي جوړښت د سمبالولو لپاره طرح شوی ترڅو په څارنوالانو پورې اړونده چارې او په همدې توګه اړونده تادیبي اقدامات ښه تنظیم او سمبال شي.

***د قانون ښه پلې کیدنه به د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنیدو کچه راټیټه کړي***

په همدې توګه د ۴۵ ګڼې فرمان یوه موخه دا هم ده چې د قانون د پلې کیدو ځنې ټاکلي اړخونه ښه والی و مومي. د هغو اړیکو کچې ته په کتلو سره چې د ترافیکو پولیس یې له عامه خلکو سره لري، او د ادعا شوي بډو کچې ته په کتلو سره چې خلك یې ورکوي، یوه مهم اړخ یې د ترافیکو د پولیسو له کړنو سره تړاو لري. د فرمان د ۳ مادې (۵ ) بند د کورنیو چارو له وزارت څخه غواړي چې په کابل او نورو سترو ښارونو کې د ترافیکو د پولیسو د کړنو د ښه والی لپاره یو کاري پلان ترتیب کړي. د اداری فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې په دې اړه د کورنیو چارو له وزارت او د کابل له ښاروالۍ نه منفي ځوابونه ترلاسه کړي دي. د کورنیو چارو وزارت وایي دوی به داسې کوم پلان ترتیب نه کړي ځکه دا به ملیونونه ډالرو ته اړتیا ولري چې داسې یو پلان پلې شي.

***د اړونده مقرراتو څخه ښه څارنه او مراقبت به د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنیدو کچه راټیټه کړي***

په همدې توګه د ولسمشر ۴۵ ګڼه فرمان په دې ټینګار کوي چې د مقرراتو له انده دې ځنې اړخونه اصلاح او ښه والی و مومي. په دې برخه کې یانې د ۱۶ مادې د (۲) بند په اړه چې غوښتنه کوي چې د دوایانو د تولید او د هیواد بازارونو ته د هغو د تورید بهیر یا پروسه دې له کمي او کیفي اړخونو نه و ارزول شي او په دې اړه دې د اصلاحاتو لپاره د وزیرانو شورا ته ځانګړې سپارښتنې او وړاندیزونه وړاندې شي، د عامې روغتیا وزارت د پام وړ پرمختګ کړی دی. نوموړې وزارت په دې وروستیو کې خبر ورکړی چې دوی ۸۰ هغه شرکتونه ارزولي دي کوم چې دواګانې تولید یا هیواد ته واردوي، له هغې جملې نه ۱۵ داسې شرکتونه تشخیص شول چې هیواد ته د ټیټ کیفیت دوا راوړي او د هغې د ډلې نه ۹ شرکتونه څارنوالۍ ته معرفي شویدي.

## د ځمکو لاندې کول

د ځمکو د لاندې کولو موضوع افغانستان ته ډېرې ستونزې پیدا کړې دي. د افغانستان د ځمکو د عمومي ریاست (ARAZI) او د رسنیو نه د خپرو شوو معلوماتو له مخې په تیرو ۳۰ کلونو کې په ټول افغانستان کې څه د پاسه ۴ ملیونه جریبه (۸۰۰۰۰۰ هکتاره) ځمکه لاندې شوېده. لاندې شوې ځمکې نه یوازې په ولایاتو، ولسوالیو یا لرې پرتو سیمو کې پرتې دي بلکه د رپوټونو له مخې په زرګونو هکتاره ځمکه د کابل په مرکز او نورو ښارونو کې هم لاندې کول شوې دی. د ځینو رپوټونو له مخی د ځمکې ځنې ستر لاندی کوونکی دولتی چارواکي، د ملي شورا غړي او همدار راز زورور او بانفوذه کسان دي چې کله به هم مجازات نه شي. ځکه نو د ځمکو لاندی کول له اداري فساد او معافیت سره نږدې تړاو لري.

د ولسمشر په ۴۵ ګڼه فرمان کې د ځمکو د لاندی کول د ستونزې د هوارولو په اړه ګڼ اقدامات نغښتي دي. د هغې لومړنی ګام د ۲۷ مادې په ۲ بند کې راغلی چې د کرهنې، ابولګولو او مالدارۍ له وزارت څخه غواړي تر څو د عدلیې او کورنیو چارو د وزارتونو، د لوی څارنوالۍ او د سیمیزه ارګانونو د خپلواکې اداري په مرسته د دولتي او شخصي جایدادونو د لاندی کول په اړه کره معلومات راټول کړي. د دې مادې پلي کیدل به دا چاره شونې کړي چې په افغانستان کې د ځمکو د لاندی کول اندازه په ډاګه شي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټې د څارنې کړنی څرګندوي چې د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د دې مادې د پلي کیدو په اړه لږ څه پرمختګ کړی دی. د ځمکو عمومی ریاست (ARAZI) خپل رپوټ چې د عدلیې او کورنیو چارو د وزارتونو، د لویې څارنوالۍ او د سیمیزه ارګانونو د خپلواکې اداري په مرسته چمتو شوی، هغسې چې ترې غوښتل شوی وو، استولی دی. خو نوموړي ریاست نه خپله رپوټ او نه هم د لاندی کوونکو نومونه په دې دلیل د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې سره نه دی شریك کړي چې په هغو کې نغښتي معلومات په لوړه کچه حساس دي.

د افغانستان د ځمکو عمومي ریاست (ARAZI) د افغانستان په ځنې سیمو کې لاندی شوی شوې ځمکې او د لاندی کوونکو تفصیلات تثبیت کړي او په دې اړه یی د ولسمشر دفتر ته یو لست وړاندې کړي چې په لاندې کټګوریو یا ډلو وېشل کیږي:

1. ۱۶ کسه د ځمکو د لاندی کوونکو په ډله کې تر ټولو ستر لاندی کوونکی ګڼل کیږي چې په ټوله کې یی په ۱۳۸۹۹۶ جریبه ځمکه خیټه اچولې ده،
2. ۴۲ کسه داسې کسان دي چې تر ۱۰۰۰ جریبو ډېره ځمکه یی لاندی کړې او دوی ټولو په ۱۰۹۶۳۱ جریبه ځمکه خیټه اچولې ده،
3. ۲۶۰ کسه داسې کسان دي چې له ۱۰۰ – ۹۹۹ جریبو ځمکه یی لاندی کړې ده، دوی ټولو ۶۵۸۱۰ جریبه ځمکه لاندی کړې ده.
4. ۶۹۳ کسه هغه دي چې له ۱۰ – ۹۹ جریبو ځمکه یی لاندی کړې، دوی ټولو ۱۸۲۸۴ جریبه ځمکه لاندی کړې ده.

5. ۱۵۵۸ کسه هغه دي چې له ۱ -۹ جریبو ځمکه یې په لویو ښارونو کې لاندې کړې، دوی ټولو ۴۳۸۴ جریبه ځمکه لاندې کړې ده.
6. ۸۴۸ کسه هغه دي چې له یوه جریب نه یې کمه ځمکه لاندې کړې، دوی ټولو ۲۷۵ جریبه ځمکه لاندې کړې ده.
7. ۲۳۰۰۰۰ جریبه ځمکه د استوګنې په ۲۲۸ ښارګوټو کې، او
8. ۱۳۹ دولتي چارواکي دي چې ځمکې او نور املاک پرته له کوم قانوني واك یا اجازې کاروي.

د ستونزې د پراخوالي په اندازه باندې پوهیدل د ځمکې د لاندې کولو د ستونزې د هوارولو لپاره یوازې یو پیل شمیرل کیږي. د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکی او ګډې کمیټې دا موندلې چې په افغانستان کې د ځمکو د لاندې کولو د دوام ستر لامل هماغه د سیاسی ارادې نه شتون دی چې دا ستونزه هواره کړی شي او به همدې توګه د هیواد په ځنې سیمو کې نا امني، له مجازاتو نه د ځنې کسانو معافیت، په دولتي ادارو کې اداري فساد شتون، د یوې هر اړخیزې تګلاری نه شتون، د دولت د یو شمیر لوړپوړو چارواکو لخوا د ځمکې لاندې کونه او له دولتي ځمکو نه په اغیزمنه توګه د ګټه اخیستو په برخه کې د دولت کمزوري، د یادولو وړ لاملونه ګڼل کیږي.

اوس چې د ځمکې د لاندې کوونکو په اړه اړین معلومات له اړونده چارواکو سره شریك شوي، د چارواکو غبرګون به په دې اړه څرګنده کړي چې آیا د دې ستونزې د هوارولو لپاره ریښتنې سیاسي اراده موجوده ده که څنګه. د کرهنې د وزارت د معلوماتو له مخې په تیر یوه کال کې ۶۰۰۰۰ جریبه دولتي لاندې شوې ځمکې بیرته ترلاسه شوې دي.

د ولسمشر دغه فرمان د دولتي چارواکو پام دولتي او خصوصي لاندې شوو ملکیتونو په اړه دی، خو له بده مرغه خصوصي ملکیتونو ته د پام وړ توجه نه ده شوې. د ځنې لاسته راوړنو سره سره، مهمه موضوع داده چې د افغانستان د ځمکو اداري ډېر پام دولتي لاندې شوو ځمکو ته اړولې، په داسې حال کې چې فرمان د خصوصي ځمکو په اړه هم صراحت لري. هیله ده چې کله د دې ستونزې دغه اړخ بشپړ شي، نو بیا به توجه د ستونزې بل اړخ ته واړول شي.

د ځمکو د لاندې کولو د ستونزې د هوارولو په اړه بل ګام د اړونده محکمو د احکامو پلی کول دي. د فرمان د ۳ مادې (۱) بند داسې صراحت لري چې د کورنیو چارو وزارت دې د محکمې د فیصلې د پلی کولو لپاره د عامه یا خصوصي ملکیتونو د لاندې کولو د قضیو پر وړاندې ګام پورته او یو لیکلی رپوټ دې د چارو اداري ته وسپاري. د قانون د پلی کیدو د اړونده ادارو د رپوټونو له مخې د ځمکو د لاندې کولو ډېری قضیې له کومې پریکړې پرته اړونده محکمو ته سپارلې شوې دي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډه کمیټه اوس په دې کار کوي چې معلومه کړي په څه شمیر دې ډول دوسیو باندې اړونده محکمو کار پیل کړی دی، خو په دې اړه د بیلابیلو وزارتونو لخوا مختلف معلومات وړاندې شوي دي. د کورنیو چارو وزارت وایی چې څه نا څه ۱۹۱ د ځمکو د لاندې کولو اړونده دوسیې یی د عدلي تعقیب لپاره لویې څارنوالۍ ته سپارلې دي چې تر اوسه یی کوم ځواب له

څارنوالۍ یا محکمې څخه نه دی ترلاسه کړی. دا په داسې حال کې ده چې لویه څارنوالي د دا ډول قضیو له وررسیدلو څخه انکار کوي. دا هم معلومه نه ده چې د څمکو د لاندی کولو په اړه د محاکمو څومره پریکړې صادرې شوې دي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه په دې اړه چې د محاکمو همکاری له پلوه د ستونزو سره مخامخ وه. کمیټه به په دې اړه خپلو هڅو ته دوام ورکړي تر څو محاکم د دې ډول ټولو هغو دوسیو په پیژندنه او تشخیص کې ښکیل وساتی چې د هغو پلی کول د ارزولو وړ وګڼل شي.

بلاخره د فرمان د ۳۱ مادې (۱) بند د مهاجرینو او بیرته راستنیدونکو چارو له وزارت څخه غواړی چې مهارجرینو ته دهیواد په ۳۴ ولایتونو کې د ځمکې د عادلانه وېش په اړه رپوټ ورکړي. د هغو معلوماتو له مخې چې ترلاسه شوي، تر اوسه پنځه ولایتي ماموریتونه بشپړ شوي او د پالیسۍ او پلان د معیین تر مشرۍ لاندې د رییسانو په کچه یوه کمیټه د دې لپاره جوړه شوې چې نوموړي رپوټونه و ارزوي او موجودو ستونزو ته د هوارولو لارې پیدا کړي. سره له دې چې بیرته راستنو شوو ته د ځمکې د وېش په اړه د ځنې لاسوهنو یا مداخلو، د رشوت ورکولو او جنګ سالارانو او دولتي چارواکو ته د ځمکې د وېشلو په ګډون، یو شمیر رپوټونه هم شتون لری. که وغواړو چې په موجود وضعیت کې بدلون راشي، نو د تشخیص شوو ستونزو د هوارولو لپاره د یولړ اغیزمنو ټګلارو جوړولو او ترسره کولو ته اړتیا شته.

## ټول ټاکنې

آزادې او عادلانه ټول ټاکنې د ولسواکۍ مهم عنصر او خلکو ته د واك اختیار ورکولو او د هغوی د څواکمنولو لپاره د ډېر اهمیت لرونکې وسیله ګڼل کیږي تر څو سیاسي چارواکي د دوی په وړاندې مسؤل وي. خو په ټول ټاکنو کې درغلي تل دغه مهمه دنده په نوو پیدا شوو ولسواکیو کې تر ډېره بریده د کمزوره ټاکنیزو جوړښتونو او سمونو له وجې تر پوښتنې لاندې راولي. د افغانستان ټاکنیز نظام د رای ورکونکو د ثبت، د کاندیدانو د ارزونې، د رایو د سمبالونې او د شکایاتو د اوریدو په اړه له تشکیلاتي ستونزو سره مخامخ دی.

حکومت هڅه کړې چې د ټاکنو تشکیلاتي اړخونه د ټول ټاکنو د قانون په اړه د وړاندې شوو وړاندیزونو اواصلا حاتو له لارې حل کړي لکه چې د فرمان د ۵ مادې (۴) بند غوښتنه کوي چې نوموړی قانون دې له بشپړیدو وروسته د وزیرانو شورا ته واستول شي. د نوموړي قانون مسوده د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۳مه نیټه د وزیرانو په غونډه کې تصویب شوه او اوس مهال په ملي شورا کې تر غور لاندې دی. د دې قانون په وړاندې شوې مسوده کې د ټاکنو د شکایاتو کمیسون له منځه تللی او اړونده دندې یې په مرکز او ولایاتو کې د استیناف محکمو ته سپارل شوې دي. داسې بریښي چې دا موضوع د ټول ټاکنو د خپلواك کمیسون د تشکیل او واکونو له قانون سره چې اوس په ملي شورا کې تر غور لاندې دی، په ټکر کې ده. د رپوټونو له مخې په نوموړي قانون کې د اصلاحاتو له وړاندیزونو سره سره، ستري محکمې لا دمخه په دې کار پیل کړی چې د شکایاتو د اوریدلو لپاره یوه نوې مقرره وضع کړي.

په همدې توګه په وړاندې شوو تعدیلونو کې د نوماندانو یا کاندیدانو د ارزونې لپاره داسې احکام شته چې د هغو پربنسټ نوموړی نوماندان د جرمي سوابقو، په وسلوالو ډلو کې د غړیتوب او له دولتي دندو نه د استعفاله مخې ارزول کیږي. په همدې توګه د ارزولو په پروسه کې د تحصیلي اسنادو ارزونه او د منجمنټ یا سمبالونې اړونده تجربه چې د ولسمشرۍ او ملي شورا ته د نوماندانو د وړتیاوو د معیارونو د پوره کولو لپاره اړینه ګڼل کیږي، راځي. خو په اغیزمنه توګه د دې برخو د ارزولو څرنګوالی لا هم روښانه نه دی. په ټاکنیز بهیر کې د لیاقت او وړتیا پر بنسټ د نوماندانو د منلو معیارونه د دې قانون په احکامو کې واضح او صراحت لري خو د جوړښتونو یا میکانیزمونو او هغو لارو چارو په اړه چې وبه کارول شي، لاهم اندېښنې پرخپل ځای پاتې دي.

د ارزونې په بهیر کې یوه مهمه چاره د رای ورکونکو د یوه اعتبار لرونکي او جامع لړلیك یا فهرست ترتیبول دي. د افغانستان د ورستیو ټول ټاکنو رپوټونه څرګندوي چې ښایي د رای ورکولو په ملیونونو اضافي کارتونه د ثبت شوو رای ورکونکو د تصدیقولو په نه شتون کې صادر شوي وي. د فرمان د ۱۲ مادې (۱) بند د ټاکنو له کمیسیون نه غواړي چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره د رای ورکونکو د ثبت یو پلان جوړ او د وزیرانو شورا ته یې دې وسپاري. نوموړي کمیسیون د رای ورکونکو د نومونو د ثبت مسوده ترتیب کړې ده خو د وزیرانو د شورا لخوا د لګښتونو، امنیتي اندېښنو او د الکترونیکي تذکرو د وېش د پروسې د وخت په دلیلونو رد شوه.

د ټاکنو خپلواك کمیسیون په دې وروستیو کې اعلام کړی چې پخوانیو ټول ټاکنو کې د رای ورکولو کارتونو او د وېشلو په درشل کې الیکترونیکي تذکرو ته به په راتلونکو ټول ټاکنو کې اجازه ورکړي. د کمیسیون رئیس وویل چې کمیسیون به د جعلي کارتونو د تشخیصولو وړتیا ونه لري. په تیرو ټول ټاکنو کې د درغلیو پراخه کچه، د رای ورکولو د کارتونو په تثبیتولو کې پاتی والی به په راتلونکو ټاکنیو کې د اداري فساد له انده د زیانمننې د پام وړ سترې موکې یا فرصتونه برابر کړي.

د ټول ټاکنو په اړه بله اړونده ماده چې د کمیټې تر څارنې لاندې ده، د فرمان د ۱۲ مادې (۲) بند دی. دا ماده د داسې رڼو ټاکنیزو پروګرامونو له طرح کولو سره تړاو لري چې ولسمشرۍ، ملي او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره ټولیز ټاکنیز مهال وېشونه چمتو کړي. د ټول ټاکنو د قانون سره سم، د ټاکنو خپلواك کمیسیون مکلف دی چې د ټاکنو له ورځې ۱۲۰ ورځې مخکې د ټاکنو مهال وېش چمتو او اعلان کړي. د ټاکنو خپلواك کمیسیون د ولسمشرۍ، او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره خپل ټولیز مهال وېش اعلان کړ چې هغه به د ۱۳۹۳ کال د وری په ۱۶مه نیټه دایریږي. پارلماني او د ولسوالیو اړونده ټاکنې به تر ۱۳۹۴ کاله پورې دایرې نه شي. له دې امله ، د ټاکنو خپلواك کمیسیون د دې لپاره لا وخت لري چې نوموړی مهال وېش د قانون له مخې اعلان کړي.

**<u>د بودجې په چوکاټ او له هغو نه بهر د مالي تمویلولو چاره (On and Off-Budget Financing)</u>**

***د توکیو د کنفرانس د ژمنو پلي کول د دواړو لورو د مسؤلیت منلو لپاره اړین کار دی***

د فرمان د ۱۷ مادې د (۳) بند له مخې د مالیې وزارت ته دنده سپارل شوې چې د ټوکیو د کنفرانس له ژمنو یو تعقیبي پلان ترتیب او پلی کړي او په دې اړه دې د کار د پرمختګ په باب د وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي. د ټوکیو د کنفرانس د پرېکړو د پلي کولو لپاره اړونده طرح د مالیې وزارت لخوا چمتو شوې او په هغو کې د ټول ټاکنو، دولتي ادارې او د قانون د واکمنۍ، بنې بانکدارۍ، دولتي بودجې، وده او پراختیا او د مرستو د اغېزمنتیا په ګډون په بیلابیلو برخو کې ځانګړې کړنې او تدابیر شامل دي. د توکیو د کنفرانس د ژمنو د پلی کیدو او تعقیبولو مسؤلې اداري پېژندل شوې، نو ځکه کره ځارنې ته اړتیا ده تر څو ډاډ ترلاسه شي چې اړونده اداري خپل مکلفیتونه په ټاکلي مهال وېش کې په بنه توګه ترسره کوي.

د توکیو د کنفرانس د ژمنو د پلی کولو د چوکاټ په وړاندې شوې دولتي اداره کې یوه دایمي کمیټه او د ځارنې او همغږۍ یو ګډ بورد راځي تر څو اړونده پرمختګونه په منظمه توګه و ارزوي؛ او د لوړ پوړو چارواکو یوه غونډه چې په ۱۳۹۲ کال کې به جوړه شي، او له هغې وروسته په هر دوو کلونو کې دایرېږي تر څو د اړتیا په صورت کې اړونده شاخصونه نوی کړي. بلاخره، د وزیرانو په کچه یوه غونډه چې په ۱۳۹۳ کال کې به جوړه شي او له هغې وروسته به په هرو دوو کلونو کې د سرچینو د اړتیاوو او د نړیوالو ژمنو د ارزولو په موخه دایرېږي. د ټوکیو د کنفرانس په چوکاټ کې یوه دارالانشاء د مالیې وزارت د پالیسۍ د ځانګې په تشکیل کې جوړه شوې چې په هغو کی د مالیې وزارت معین، د ستراتیژیکو پلانونو لوی رئیس او د افغانستان د ملي تګلاری د سکرتریت رئیس غړیتوب لري. د وړاندیز له مخې د یونما (UNAMA) اداره باید د همغږۍ اړونده غونډې هر اونۍ دایرې کړي چې په هغو کې به مرستندویان یا دونران یا اړونده سفیران د پرمختګ د ارزونې لپاره ګډون کوي. تر اوسه د مالیې وزارت او مرستندویانو ترمنځ ګڼ شمیر مقدماتي غونډې جوړې شوې دي.

د توکیو د کنفرانس موخو او د پاریس د کنفرانس پرېکړه لیك ته د رسیدو لپاره افغان حکومت او د هغه نړیوال همکاران باید خپلې وړتیاوې د پرمختیا د سمبالولو، په ځانګړې توګه د مرستو د اغېزمنتیا د ځارلو او تعقیبولو په برخه کې اوچتی کړي. د مالیې وزارت د مرستو د سمبالولو یا منجمنټ یوه کړنلاره طرح کړې چې په دې وروستیو کې یعنې د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ په میاشت کې د همغږۍ او ځارنې د ګډ بورد لخوا تصویب شوې ده. نوموړې کړنلارې په دې برخه کې د پام وړ هڅو ځرګندویه ده چې د توکیو د دوه اړخیزو مکلفیتونو له چوکاټ (Tokyo Mutual Accountability Framework) د ملي لومړیتوبونو له پروګرام (National Priorities Program) او د دولت له نورو تګلارو اړونده ژمنې په یوه ګډه عملیاتي (operational policy) کړنلاره کې سره توحید او یوځای شي. سره له دې چې په دې برخه کې ځنې محدودیتونه او کمزورۍ شته ځکه نوموړې کړنلاره د اړونده اړخونو په استازیتوب اوس مهال یوازې د ترټولو غوره هڅو غوښتنه کوي او دا د یوې صریح او ډېرې متعهدې لهجې سره په ټکر ده.

***د دولتي ترونونو خپرول د روڼتیا او مسؤلیت منلو کچه لوړوي او خلکو ته د دې موکه برابروي چې د دولت کړنې په ډېر ځیر سره تر کتنې لاندې ونیسي***

د فرمان د ۱۹ مادې (۲) بند د اقتصاد له وزارت څخه غوښتنه کوي چې د دولتي قراردادونو ټول تفصیلات چې له خصوصي شرکتونو، ملي او نړیوالو مؤسسو یا ادارو سره تړل کیږي، د مالې، مخابراتو او معلوماتي

ټکنالوژۍ د وزارتونو په همکارۍ په آن لاین یا د انټرنټ له لارې خپاره کړي. د ورکړل شوو رپوټونو له مخې تر اوسه څه د پاسه ۱۲۰۰ تړونونه خپاره شوي او له ټولو دولتي ادارو څخه غوښتل شوي چې د خپرولو په موخه خپل ټول تړل شوی تړونونه نوموړی وزارت ته وسپاري، خو د بهرنیو چارو وزارت، د سوداګرۍ وزارت او کابل ښاروالۍ دا غوښتنه تر اوسه پوری نه ده پوره کړې. سر بیره پردې، داسې معلومیږي چې ډېری هغه تړونونه چې خپاره شوي د هغو ټولو تفصیلاتو او جزییاتو درلودونکی نه دی چې د فرمان پورتنۍ ماده یی غوښتنه کوي.

د فرمان د ۲۱ مادې (۵) بند د کانونو له وزارت څخه غوښتنه کوی ترڅو داسې یو ځانګړی پلان طرح کړي چې د کانونو د اړونده تړونونو په اړه د نړیوالو منل شوو اصولو سره سم روڼتیا ډاډمنه کړي او د نوموړو ترونونو ـ یوازې لنډیز نه ـ بلکه ټول جزییات د انټرنټ له لارې په اړونده ویب پاڼه کې خپاره کړی. د کانونو وزارت د کانونو اړوند د عینکو د مسو له مهم تړون پرته څه دپاسه ۲۰۰ تړل شوي تړونونه په خپله ویب پاڼه کې خپاره کړل. د عینکو د مسو اړونده تړون په شعوری او قصدي توګه له دې امله نه دی خپور شوی چې په مل پاڼو یا منضمه هوکړه لیکونو کې ځینې محرم موضوعات موجود دی چې تر اوسه د هغو په اړه خبرې اترې روانې دي، خو د کانو وزارت دې ته ژمن دی چې نوموړی تړون به له هغو وروسته خپروي چې پورتنی هوکړه لیکونه بشپړ شي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه به د نوموړي وزارت سره په تماس کې وي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د نوموړی تړون د خپرېدو کار په مناسب وخت کې ترسره کیږي.

***د عامه تدارکاتو په برخه کې روڼتیا د اداری فساد لپاره د موکو کچه را ښکته کوي***

په همدې توګه په ۴۵ ګڼه فرمان کې د دولتی پیرودنو په اړه ګڼ شمیر مادې شاملې کړې دي چې د هغو اغیز ښایی دا وي چې د روڼتیا کچه لوړه او د ګټو د ټکر او په همدې توګه په پیرودنو کې د خپلوۍ پالنې مخه ونیول شي. د ۱ مادې (۱۵) بند دولتي ادارې له دې منع کوی چې د ودانیزو چارو، پیرودنو او د خدمتونو د برابرولو لپاره دې د دولتي لوړپوړو چارواکو یا د هغو له خپلوانو سره تړونونه لاسلیک کړی. دا ډول کړنې به اداري فساد وګڼل شي او مرتکبین به یی د څارنوالۍ لخوا تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي. که څه هم دولتي ادارې په ټولیزه توګه څرګندوي چې دوی له لوړپوړو دولتي چارواکو سره تړونونه نه لاسلیکوي، خو د دې ویلو په خلاف ځنې رپوټونه موجود دي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه اوسمهال د دا ډول قضیو د جزییاتو په لټه کې ده تر څو دا وارزوي چې له نوموړې مادې څخه سرغړونه شوې که څنګه او یا داچې دا ډول پیښې څارنوالۍ ته محولې شوې او د هغوی لخوا تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوې که نه.

په همدې توګه نوموړی فرمان د پیرودنو په جوړښت کې د ځنې اصلاحاتو او سمونونو غوښتنه کوي چې په هغو کې د پیرودنو د قانون د بیا کتل شوې طرحې د پړاونو پشپړول هم راځي (د ۵ مادې (۳) بند)؛ د ملي دفاع وزارت لپاره د پیرودنو یو نوی شوی جوړښت یا میکانیزم ( ۲ ماده (۱) بند)؛ او د پرمختیایی پروژو څخه د اغیزمنې څارنې غوښتنه (۱۹ ماده (۱) بند)، شامل دی، لیکن تراوسه په دی اړه کوم پرمختګ نه دی شوی. د پیرودنو نوی قانون څو ځله د وزیرانو شورا ته استول شوی او د عدلي په وزارت کې د ټاکل شوي

کمسیون لخوا مطالعه شوی دی. د مالیې وزارت د دولتي کارپوهانو په ګډون یو ورکشاپ دایر کړی او د هغو په ترڅ کې یې د نوموړې قانون مسوده یې نوره هم تصحیح کړه. د ملي دفاع وزارت د خپلو پیرودنو د پروسې لپاره نوي طرزالعملونه ترتیب او د چارو اداري لوی ریاست ته یې استولي دي.

د دفاعی پیرودنو ساحه د اداري فساد د مخنیوی او دهغو د کچې د کمولو لپاره یوه ډېره مهمه ساحه ګڼل کیږي. د نړیوالې روڼتیامؤسسې (Transparency International) په دې وروستیو کې د نړیوال دفاعي سکتور د بودیجو د روڼتیا په اړه د خپلې ارزونې پایلې خپرې کړې او افغانستان له شپږو نه په پنځمه ډلهځای لری. اوس مهال ډېری دفاعي لګښتونه د نړیوالې ټولنې لخوا ورکول کیږي خو په راتلونکی کالونو کې د نړیوالو ځواکونو په وتلو سره به د ملي دفاع د وزارت دفاغي لګښتونه ډېر زیاد شي. دا واقعیت د دې خبرې اهمیت په ګوته کوی چې باید د پیرودنو لپاره اغیزمنې لارې چارې موجودې وي او د اداري فساد په وړاندې د زیانمنیدو کچه راښکته کړي.

***د دولت د عوایدو پرمختللي جوړښتونه به په بهرنیو مرستو باندې د هیواد د تړلتیا او د اداري فساد له وجې د دولتي عوایدو د ضایع کیدو کچه راښکته کړي.***

په تیره لسیزه کې د افغانستان دولت د خپلو فعالیتونو د تمویل لپاره په بهرنیو مرستو متکی وو. که څه هم افغانستان د عوایدو د ترلاسه کولو یو شمیر سرچینې په واك کې لري خو د یو شمیر ستونزو لکه ناامني، اوږده سرحدونه، د وړتیا ښکته کچه، کمزورې اداري او په اداري فساد لړلي کړنې او اجراات د دې لامل ګرځي چې دولت ونشي کولی چې خپل ټول عواید په سمه توګه راټول کړي. په پایله کی، په ۴۵ ګڼه فرمان کې داسې مادې شاملې دي چې د عواید د راټولولو د اړونده چارو سمون او د هغو د ضایع کیدو مخنیوی په پام کې لري.

د ۱۷ مادې (۷) بندد مالیې له وزارت څخه غواړي ترڅو داسې یو میکانیزم یا جوړښت رامنځ ته کړي چې د هغو په پایله کې د دولت عواید ښه والی ومومی او د اړونده وزارتونو د وړتیاوو کچه لوړه او د بودجې اړونده مسؤلاته کړنې یا اجراات نور پراخه کړي. به دې توګه د مالې وزارت د یوه داسې پلان مسوده یې ترتیب کړې چې د هغو په پلي کیدو سره به د عوایدو اړونده چارې او د دولتي ادارو ظرفیت ښه والی ومومي. نوموړې پلان د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې سره شریك شوی دی. په نوموړې پلان کې درې سرچینې نغښتې دي: الف) د مالیاتو راټولول، ب) د دولتي ادارو څخه د عوایدو راټولول، او ج) د ګمرکاتو عواید. په دې پلان کې ۴۰ سپارښتنې شته چې د دریو واړو ساحو لپاره په پام کې نیول شوې دي، خو په دې پلان کې اوسنی وضعیت، موخې او لنډمهاله او اوږد مهاله کمیتي او کیفیتي پایلې تشریح شوی نه دی. له دې ټولو سره که د مالیې په وزارت کې سپیڅلي او له فساد نه پاك سیستمونه رامنځ ته نه شي، نو د عوایدو د کچې د لوړولو بهیر له ګواښ سره مخامخ دی.

په همدې توګه د فرمان د ۲۵ مادې (۱) بند غوښتنه کوي چې د ترانسپورت او هوایی چلند وزارت دې د ځمکني ترانسپورت د عوایدو د راټولو روڼ، هراړخیز او تجدید شوی جوړښت د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي، ځکه د ځمکني ترانسپورت ډېری عواید د رپوټونو له مخې د دولت خزانې ته نه تحویلیږي. د

ترانسپورت د عوایدو د راټولولو یو جوړښت ترتیب او د چارو ادارې ته استول شوی دی، خو د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډه کمیټه په دې نه ده توانیدلې چې نوموړې تګلاره ترلاسه او د هغې اغېزمنتیا و ارزوي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه به دا موضوع په پرله پسې توګه له اړونده وزارت سره تعقیب او که شونې وي نو اضافي ارزونې به چمتو کړي.

## بنسټیزې پروژې

په افغانستان کې د بنسټیزو پروژو د پلي کولو چارې، اداري فساد ته د مستعدې ساحې په توګه د سترې اندېښنې وړ ده. داسې ډېرې ستونزې موجودې دي چې د اړونده پروژو د کار د ځنډ، په تعویق یا شاته اچولو او د هغو د درېدو لامل ګرځي او یا هم د کسبه کارو یا موادو له انده په ښکته کیفیت سره پشپړېږي. ګڼ شمیر تړونونه داسې شرکتونو ته ورکړل شوي چې د اړونده پروژو د پلي کولو وړتیا یې نه لري او په دې ترتیب په ګڼ شمیر کې په فرعي تړونونو وېشل کیږي او ځنې وختونه د نه وړتوب او د پیسو د اختلاس له امله د پروژې د بودجې د ضایع کیدو سبب هم ګرځي.

د پیرودنو د قانون له مخې، تړون کوونکی مکلف دي چې اړونده پروژې په ټاکلو مودو کې بشپړې کړي. د فرمان د ۲۴ مادې (۳) بند د ټول ګټو له وزارت څخه غوښتنه کوي ترڅو د ټولو هغو پروژو یو لړلیک چمتو کړي چې بشپړې شوې نه دی او د هغو د ځنډېدو، وقفې یا بل وخت ته د موکولولو اړونده دلیلونه برابر او د وزیرانو شورا ته یې وړاندې کړي. نوموړی لست د کاغذ پرمخ یا تیوریکی توګه بشپړ شوی دی. په نوموړي لست کې یوازې هغه ۳۵ پروژې شاملې دي چې د افغان حکومت، د آسیا د پراختیا د بانك، اسلامي پراختیا بانك او د افغانستان د بیا رغونې له امانتی صندوق لخوا تمویل شوې دي او هغه پروژې چې د نورو مهمو مرستندویانو لکه د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداری، د امریکې د پوځ د انجنیرانو د ډلې او د ولایتي بیا رغونې د ډلو (PRTs) لخوا پلي شوې دي د نوموړو ادارو د نه همکارۍ په وجه په دې لست کې شاملې نه دي. هغه ستونزې چې په پروژو کې د ځنډ سبب شوې عبارت دي له ناامنۍ، د هوا زړه یاخراب حالات، د اړینو موادو نه شتون، د ځمکو د ترلاسه کولو اړونده چارې، فرعي تړونونه، ناکافي طرح او ډیزاین او د همکارۍ نشتوالی، د یادولو وړ دي.

سره له دې چې ځنې تړون کوونکی د دې له امله چې اړونده پروژې یې په ټاکلې موده کې نه وې بشپړې کړې جریمه یا د قانون پلی کوونکو ادارو ته سپارل شوې دی. ټول ګټو وزرات باید د دې پروژو له ساده نوم اخیستلو نه هاخوا د داسې تګلارو د طرحې او پلي کولو کار ته ملاوتړي ترڅو په هغو ستونزو باندې بریا وموممي چې د دوی له ناکافي شونتیاوو سره تړاو لري. په همدې توګه نوموړی وزارت بایدد نورو هغو مرستندویانو او مؤسساتو معلومات هم تعقیب کړي چې بنسټیزې پروژې لري تر څو په دې توګه ډاډ ترلاسه شي چې ټولې اړونده قضیې تر غور او کتنه لاندې نیول شویدی.

## حکومتي کار ګمارنه

د ډېرو کلونو راهیسې د حکومت په بیلابیلو ادارو کې د ګمارنې او تعییناتو موضوع د اندېښنې وړ ګڼل کیږي. کار ګمارنه تر ډېره بریده او اکثراْ پرته له دې چې وړتیا ته کوم ارزښت ورکړل شي، د خپلوۍ پالنې پر

بنسټ ترسره کیږي چې د هغو په پایله کې نالایق او بې اغیزه کسان د حکومت په لوړو او مهمو بستونو کې په کار ګمارل کیږی چې د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنیدو کچه ورسره لوړیږي. د ولسمشر فرمان په حکومتی بیلابیلو ادارو کې د کار ګمارنی او تعییناتو د بهیر په اړه پیاوړی دریځ او ډېر صراحت لري.

***په ټول حکومتی نظام کې به پراخه سمون له دې سره مرسته وکړي چې د وړتیا او لیاقت پربنسټ د تعییناتو بهیر پیاوړی او د رشوت غوښتنې لپاره انګیزې راښکته شي***

د فرمان د ۱۱ مادې (۲) بند د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د کمیسیون څخه غواړي چې د داخلي اصلاحاتو یو پلان د د کار ګمارنی له لوړو معیارونو سره سم طرح کړي او د ۱۷ مادې (۶) بند د ملکي خدمتونو د مامورینو د معاشونو او امتیازونو لپاره د یوې مناسبې طرحې غوښتونکی دی. هغه معلومات چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته رسیدلي دي څرګندوي چې د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د کمیسیون د سمونونو یا د ملکي مامورینو د ګمارنی په اړه یو وړاندیز طرح کړی چې د وزیرانو شورا ته سپارل شوی دی. په نوموړي پلان کې د ملکي مامورینو د معاشونو او د معاشونو د اداري چارو د اصلاح په اړه د یوې څیړنې په ترسره کولو باندې ټینګار شوی دی.

***د کار ګمارنی او تعییناتو بهیر باید په ګڼ شمیر مهمو ادارو کې د وړتیاوو او لیاقت پر بنسټ ترسره شي***

په دې سربیره د فرمان د ۱ مادې (۱۷) بند د سیمیزه اورګانونو له خپلواکې اداري څخه غوښتنه کوي چې تر هغه مهاله چې د ښاروالیو لپاره ټاکنې تر سره کیږي، د ښاروالانو د ټاکلو په موخه دې وړتیا لرونکي کاندیدان د لوړپوړو چاراوکو د تعییناتو ځانګړي بورد ته وروپیژني تر څو نوموړی بورد د ښاروالانو د ټاکنو په اړه پرېکړه وکړي. د ۸ مادې (۲) بند له نوموړې اداري غوښتنه کوی تر څو په دې اړه اړین تدابیر تر لاسه لاندې ونیسي چې د والیانو د مرستیالانو لپاره دې وړتیا لرونکي کسان د آزادې او بې پرې سیالۍ له لارې د اداري اصلاحاتو د کمیسیون په همکارۍ په کار وګماري.

رارسیدلي معلومات څرګندوي چې، د ښاروالانو ټاکل د فرمان د اړونده مادې سره سم ترسره کیږي، په دې توګه چې کاندیدان د سیمه ایزه ارګانونو د خپلواکې اداري لخوا د تعییناتو ځانګړي بورد ته وروپیژندل کیږي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته رارسیدلي معلومات څرګندوي چې د ملکي خدمتونو کمیسیون د سیمه ایزه ارګانونو د خپلواکې اداري سره په همغږۍ کې د والیانو د مرستیالانو هغه تش بستونه د آزموینو او د وېډیو ټیپ مرکو له لارې ډک کړي دي. رپوټونه څرګندوي چې د والي د مرستیالانو له ۳۴ تشو بستونو له جملې نه ۱۷ نوموړي بستونه د وړتیا پر بنسټ د ګمارنی له لارې ډک شوي او ۱۷ کسه نور د آزموینې لپاره په لنډ لړلیك یا لست کې غوره کړی شوي دي. که څه هم په ډېری مواردو کې هماغه کسان چې د والیانو د مرستیالانو په دنده یی خدمت کاوه بیا دې دندې ته غوره شوي دی چی دا چاره د اړونده بهیر روڼوالی او کره والی تر پوښتنې لاندې راولي.

د فرمان د ۶ مادې د (۲) بند پر بنسټ، د ولایاتو د څارنوالۍ د ریسانو مقرري باید د ولسمشر دفتر ته پیشنهاد او منظوري یې واخستل شي. هغه معلومات چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته رسیدلي دي څرګندوي چې لوی څارنوالۍ د ولایاتو د څارنوالیو ۱۳ رییسان

پیشنهاد کړی ول چې د ولسمشر لخوا منظور شوي. که څه هم چی دغه ۱۳ کسانو پخوا هم په همدغه پوستونو په ځارنوالیو کې کارکاوه، دا په دې مانا ده چې د نوموړو ولایاتو په ځارنوالیو کې کوم ادلون بدلون نه نه دی راغلی. په همدې توګه هغه معلومات چې د اداری فساد پروړاندی د ځارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټې ته رارسیدلي دي څرګندوي چې وروستنی ۱۵ کسه پیشنهاد شوي ځارنوالان د ولسمشر لخوا د رپوټونو له مخې په دې دلیل ونه منل شول چې برحاله ځارنوالان بیا هم پیشنهاد شوي ول.

په همدې توګه نوموړی فرمان ځانګړو وزارتونو ته دنده سپاری چې په خپلو ادارو کې د تعیناتو او کار ګمارنی ځئي تدابیر تر لاسه لاندې ونیسي. د ۴ مادې (۲) بند د بهرنیو چارو له وزارت څخه غوښتنه کوی چې د کارګمارنی جوړښت یا میکانیزم ته له سره کتنه وکړی او اړین سمونونه دې د ډیپلوماتانو د کار ګمارنی او د هغوی د وړتیاوو په اړه پیشنهاد کړي؛ د فرمان د ۳ مادې (۷) بند د کورنیو چارو له وزارت څخه غواړي چې د هغو وړتیا لرونکو افسرانو ترفیعات دې اجرا کړی چې شرایطو وړ وګڼل شي. د ۱۸ مادې (۱) بند د سوداګری له وزارت څخه غواړي چې په بیلابیلو هیوادونو کې د تجارتي آتشو د شمیر او د هغوی د ګمارنی د میکانیزم په اړه رپوټ ورکړي.

د اداری فساد پروړاندی د ځارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټې د ځارنیزو کړنو په ترڅ کې ګډې پایلې څرګندې شوې دي. د بهرنیو چارو وزارت ځنې کمیټې جوړې کړې ترڅو ټول دیپلوماتان د دوی د وړتیاوو، تجربو او ژبو د مهارت پر بنسټ و ارزول شي. د داخلي کړنلارو یا طرزالعملونو له مخې، وزارت باید د ټولو کاندیدانو او انفرادي کسانو لپاره چې د کابل له لارې او په همدې توګه چې د هیواد څخه بهر د ډیپلوماتیکو ځانګو له لارې مقررېږي، د شمولیت یوه آزموینه دایره کړي. یوه بریالۍ مرکه او یوه ښه ارزونه به اړونده انفرادي کاندیدانو ته د دې موکه برابره کړي چې د هیواد په یوه ډیپلوماتیکه ځانګه کې د کارګومارنې لپاره یوه منظوري او تصدیق لیك ترلاسه کړي.

سره له دې، د اداری فساد پروړاندی د ځارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټې د هغو کسانو په ګډون چې بهر په اړونده ځانګو کې په دندو بوخت وو، د وزارت له ځنې مامورینو سره مرکې ترسره کړې. په پایله کې دا څرګنده شوه چې ځنې خلك وو چې په کلونو یی په وزارت کې کار کړی خو په بهرنیو ځانګو کې په کار نه وو ګومارل شوي، او ځنې داسې هم وو چې سم دلاسه هلته ګمارل شوي ول. د دې مرکو څخه جوته شوه چې د دیپلوماتانو ګمارنه په رڼه توګه نه ترسره کیږي او د هغې د ګمارنی په بهیر کې د حکومت د لوړ پوړو چارواکو، د ملي شورا د غړو و افغان وزیرانو اغیز او نفوذ اوس هم موجود دی. په یوه مورد کې داسې هم شوې چې د یوه ستر سیاسي کس کشر ورور په عرب اماراتو کې د ۷ کلونو لپاره د سکرتر په توګه ټاکل شوی وو او اوسمهال بیا په آسترالیا کې د دیپلومات په توګه کار کوي.

له هغه ځایه چې ځنې داسې کسان په دیپلوماتیکو بستونو کې ټاکل شوي چې دیپلوماتیکه پوهه نه لري، له دې امله اړونده سفارتونه، د بهرنیو چارو وزارت او د افغانستان ټول حکومت له دې ډول کسانو نه په بده توګه اغیزمن کیږي. په دیپلوماتیکو غونډو، کنفرانسونو او نورو مراسمو کې له دې امله ګډون نه شي کولی چې د دیپلوماتیکو اړینو آدابو یا پروتوکولونو اړینه وړتیا نه لري، په انګریزۍ یا نورو بهرنیو ژبو نه پوهیږي.

د وزارت یوه بل مامور څرګنده کړه چې وزارت په تیرو دریو کلونو کې د شمولیت یوازې یوه آزموینه په لاره اچولې ده. د رپوټونو له مخې په دې برخه کې یو څه پرمختګونه رامنځ ته شوي او د تجارتي آتشو لپاره په مطبوع هیواد کې د اړتیاو او د سوداګرۍ له حجم سره سم یو میکانیزم هم طرح شوی دی. او د چارو اداري ته لیږل شوی خو تر اوسه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی سره نه دی شریك شوی. کمیټه به دغه موضوع تعقیب او د نوموړي میکانیزم د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړي ترڅو دغه د ګمارنی میکانیزم و ارزول شي. د سوداګرۍ وزارت څرګندوي چې یو کمیسیون تشکیل شوی چې په هغو کې د چارو د اداري، د بهرنیو چارو د وزارت، د مالیې د وزارت او د ملکی خدمتونو د کمیسیون استازي ګدون لري. نوموړي کمیسیون د تجارتي آتشو فعالیتونه ارزولي او د ۱۳۹۲ کال لپاره د هغوی په شمیره کی ۱۸ تنه کموالی راوستی.

د فرمان د ۱۳ مادې (۵) بند د پوهنې له وزارت څخه غواړي چې د آزادۍ سیالۍ له لارې او د وړتیا او لیاقت د آزموینې پر بنسټ دې د ۱۱۰۰۰ ښوونکو د استخدام لپاره تدابیر ونیسي. نوموړي وزارت ویلي چې دا دنده لا دمخه بشپړه شوې ده. سربیره پر دې نوموړي وزارت د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته خبر ورکړی چې دوی د ۴۰۰۰۰ نورو اړتیا وړ ښوونکو د ګمارنی په بهیر کې بوخت دي.

***په مهمو وزارتونو او ادارو کې په اداري فساد د لړلو مامورینو تشخیصول به د اداري فساد د کچې په راښکته کولو کې مرسته وکړي***

بلاخره، نوموړی فرمان د ترانسپورت له وزارت او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې له ستری اداري غوښتنه کوي چې خپل پرسونل او تشکیلاتي جوړښت ته له سره کتنه وکړي تر څو د هغو په ترڅ کې په اداری فساد لړلي کسان تشخیص او د هغوی پر وړاندې لازم ګامونه تر سره کړي ( په ترتیب سره د ۲۵ مادې (۵) بند او د ۷ مادې (۳ ) بند. د ترانسپورت وزارت څرګنده کړې ده چې دوی په دې اړه د یوې کمیټې د تشکیلولو له لارې لازم ګامونه تر سره کړي او ځنې مفسد مامورین یې مجازات او تبدیل کړي هم دي. د اداري فساد پروړاندې د مبارزې ستری اداري خپله ارزونه بشپړه کړې او د چارو اداري ته یې سپارلې ، خو له دې نه یې ډه ډه وکړه چې د نوموړو ارزونو پایلی د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټې سره شریکی کړي.

## څارنه او حکومتی اداره

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټې دری داسې مادې په ګوته کړې چې د حکومتی اداري او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د څارنې د هڅو په باب بحث کوي. د ۷ مادې ۱ بند د اداري فساد پروړاندې د مبارزې له ستری اداري غوښتنه کوي چې په حکومتی او خصوصي سکتورونو کې د فساد ضد د اړونده تګلارې د پلي کیدو له څرنګوالي څارنه وکړي. نوموړې اداري د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټې سره مرسته او همکاري ونه کړه، خو د چارو د اداري عمومي ریاست څرګنده کړې چې د اداري فساد پر ضد د مبارزې د ستری اداري لخوا په حکومتی او

خصوصي سکتور کې د اداري فساد ضد د اړوندې تګلارې د پلې کیدو د مراقبت او څارنې لپاره کاري ډلې جوړې شوې دي.

په نوموړې تشکیل شوې کاري ډله کې د اداري فساد پر ضد د مبارزې د سترې ادارې یو استازی غړیتوب لري او په ټولیزه توګه په یوه یا دوو میاشتو کې یو ځل غونډه کوي او کله هم داسې وي چې هیڅ غونډه نه کوي یا ځنې کسان پکې برخه نه اخلي. د نوموړې کاري ډلې غړو ته د نړیوالې ټولنې په مرسته د اداري فساد پر ضد د سترې ادارې لخوا د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په اړه روزنه ورکول کیږي.

د نوموړی فرمان بله ماده د ۹ مادې ۲ بند دی چې د چارو له اداري غوښتنه کوي چې د ولسمشر د ټولو هغو فرمانونو او د وزیرانو د شورا د مصوبو لړلیك یا لست چمتو کړي چې پلي شوي نه دي. د چارو اداره د څارنې او ارزونې یوه څانګه لري چې په ۱۳۸۵ کال کې تشکیل شوې او مهمه دنده یی دا ده چې د ټولو فرمانونو، مصوبو او حکمونو له پلي کیدو څارنه وکړي. نوموړې څانګه یو ډیټابیس لري چې په هغو کې د نوموړې څانګې له تشکیلیدو څخه تر اوسه ټولې پریکړې په کې ساتل کیږي. که څه هم نوموړې څانګه له ۱۳۸۵ کال مخکې له دې امله کوم اسناد او مدارك نه لری چې د وزیرانو د شورا د دارالانشا په تشکیلاتي چوکات کې یی کار کاوه او نوموړې دارالانشا هغه وخت کوم الیکترونیك سیستم نه درلود او دوی د موجودو اسنادو کومه ارزونه هم ترسره کړې نه ده.

د څارنې او ارزونې د څانګې لخوا د برابرې شوې احصایې له مخې، په ۱۳۹۰ کال کې د فرمانونو او حکمونو ۵۷ سلنه پلي شوي او ۲۵ سلنه یی د پلي کیدو په درشل کې دي او پاتې ۱۸ سلنه له سره پلي شوي نه دي. په همدې توګه د ۱۳۸۵ څخه تر ۱۳۹۰ کال پورې ټولې شمیرې په دې ډول دي: ۷۳ سلنه پلي شوي دي ، ۱۵ سلنه د پلي کیدو په درشل کې دي او۱۲ سلنه پلي شوي نه دي.

د دې دلیلونه چې ولې ځنې فرمانونه، مصوبې او حکمونه پلي شوي نه دی د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC) سره شریك شوي نه دی او نه هم د څارنې او ارزونې د څانګې لخوا د نا پلی شوو مادو د ماهیت په اړه کوم تفصیل چمتو کړی شوی . دا وضعیت د کمیټې لپاره دا کړنه ناشونې کوي چې د دې کار علت په دې توګه و ارزوي چې آیا په دې برخه کې سیستماتیکې ستونزې روانې وې او یا دا چې د اداري فساد ضد هڅې مختلې شوې دی.

بلاخره د **۷ مادې (۲)** بند د اداري فساد پر وړاندی د مبارزې له سترې اداري غوښتنه کوي چې د خصوصي موسسو او دولتي چارواکو شکمنې شتمنی و ارزوي او د پایلو رپوټ دې په هرو دوو میاشتو کې جمهوري ریاست مقام ته وړاندی کړی. نوموړې اداره وایی چې دوی اړونده څیړنې بشپړې کړې او د چارو اداري ته یی په دې اړه رپوټ ورکړی دی، خو کاپي به یی د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې سره شریکه نه کړي. د دې مادې د پلی کیدو په اړه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې څارنې څرګندوي چې د اداري فساد پروړاندی سترې اداري د ملي امنیت د لوی ریاست په ګډون له ځنې وزارتونو سره هوکړه لیکونه یا تفاهم لیکونه لاسلیك کړي تر څو د پانګو یا شتمنیو د ثبت اړونده بهیر پیاوړی شي. د اداری فساد پروړاندی د څارنې د سترې اداري لخوا د پانګو په اړه خپاره

شوي دغه معلومات ډېر روښانه نه دي او د پانګو د اصلي سرچينې په اړه جزييات نه وړاندې کوي او په دې توګه داسې نه ښکاري چې په دې برخه کې دې د اساسي قانون غوښتنې پوره کړې شي. په دې پسې نومورې اداري د دولتي لوړ پوړو چارواکو د پانګو په اړه د ثبت شوو معلوماتو خپرول بند کړل. په دې اړه وروستي معلومات د دې ښکارندوی دي چې نومورې اداری د ۷۵ کسانو د اړونده پانګو د سم والي په اړه په څېړنه بوخته ده.

## III. پایلې

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ۴۵ ګڼه فرمان یو ډېر مهم نوښت ګڼل کیږي. خو د هغو بریالیتوب په اغیزمنه توګه د هغو نوښتونو په پلانولو او پلي کولو پورې اړه لري چې د فرمان په اړونده مادو کې په پام کې نیول شوي دي. که څه هم ډېری اړونده اداري د هغو لارښوونو او حکمونو په وړاندې د مسؤلیت احساس کوي چې د ۴۵ ګڼې فرمان په ترڅ کې برابرې شوې او په خپلو اجرااتو سره د هغو په وړاندې غبرګون څرګندوي. په دې اړه ځنې بریاوې شته دی. خو ګڼ وړاندیزونه هم شته چې اصلاً پلي شوي نه دي یا هم په نیمګړې او ناکافي توګه ترسره شوي دي. ۴۵ ګڼې فرمان ته باید د یوه ساده جدول د ډکولو یا خانه پرۍ په سترګه ونه کتل شي، بلکه باید اړونده وزارتونه او اداري هغو ته په راتلونکې کې د خپل فعالیت د ښه والي لپاره د ډېر کلك او مهم لارښود او هدایت په سترګه وګوري.

سره له دې چې د چارو اداري د دې فرمان د څارلو لپاره بنسټیزې زمینې برابرې کړې او د زړه له کومي هڅه کوي چې داسې وکړي، خو دا هم څرګنده ده چې د اغیزمنو څارلو لپاره د سرچینو له انده د دوی ظرفیت او د دې وړتیا چې مهم او انتقادی تحلیلونه دې برابر کړی شي، د دوی د هڅو د اغیزمنتوب کچه زیانمنوي. په نومورې فرمان کې د نغښتو اقداماتو اهمیت او د هغو د پلي کیدو لپاره د اړتیا وړ مودې ته په کتلو سره، مخکې له دې چې د فرمان اغیزمنتیا وارزول شي، د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې داسې پتیلې چې د فرمان د پلي کیدو څارلو او ارزولو ته به دوام ورکړي او په هغو کې به د نغښتو اقداماتو اغیزمنتیا د ټاکلې مودې له بشپړېدو وروسته هم و څاري او وارزوي.

## مل پاڼه یا ضمیمه: د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې اړونده هغه مادې چې څارل کېږي

| مهال ویش | ماده | مؤسسه یا اداره |
|---|---|---|
| کار پرې روان دی | د ۱ مادې ۱۵ بند – ټولو دولتي ارګانونو ته یو ځل بیا هدایت ورکول کیږي څو له دولتي لوړرتبه اراکینو، د هغو ګومارل شویو کسانو او د دوی تر ملاتړ لاندې اشخاصو سره د ټرونو، ودانولو او تدارکاتي، دولتي لوړپوړو اراکینو ته د خدماتو د وړاندې کولو د مقاولو له لاسلیکولو څخه په جدي توګه ډډه وکړي. د داسې اعمالو ترسره کول د اداري فساد جرم ګڼل کیږي او مرتکبین یې د ۱.۱ جمهوریت د لویې څارنوالی لخوا د عدلي تعقیب وړ پیژندل کیږي؛ | ټولې مؤسسې او ادارې |
| | ۸. (۲) د ولایاتو د مرستیالانو پستونه دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون په مرسته آزادې سیالی ته وړاندې شي، د وطن دوستو، ربښتینو، لایقو او وړ کدرونو په ګمارنه دې اقدام وکړي؛ | د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| ۱ میاشت | ۳ (۷) د سمونوالی تر رتبې پورې دې، د وړ منسوبینو ترفیعات اجرا کړې | د کورنیو چارو وزارت |
| | ۶ (۱) په توقیف خانو کې ټول کسان، د اړوندو څارنوالیو لخوا وڅېړل شي،له دلایلو څخه پرته دې له توقیفولو څخه مخنیوی وشي او په توقیف خانو کې د توقیف شویو کسانو بشپړ لست دې د اتهام له توضیح سره یو ځای برابر او د عدلي او قضایي کمیټې ته وړاندې شي؛ | لویه څارنوالي |
| | ۶ (۲) د ولایتونو د څارنوالیو د رییسانو مقرري لکه د وزارتونو او نورو ادرو د رییسانو په شان، د افغانستان د اسلامي جمهوري ریاست مقام ته وړاندیز شي؛ | لویه څارنوالي |
| | ۱۱ (۲) د کمیسیون جوړښت او د تعییناتو د بورد او د ملکي خدمتونو د لوی ریاست په ګډون دې د ټول پرسونل ټاکنې بیا وڅېړل شي او د لوړو معیارونو او د ګمارنې د شرایطو په پام کې نیولو سره دې د داخلي اصلاحاتو په هکله ځانګړې طرحې د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي؛ | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون |
| | ۱۲ (۱) د ۱۳۹۳ کال کې د جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره د نومونو د ثبتولو طرحه ترتیب او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |
| | ۱۸ (۱) د اړتیاوو او د هیواد د سوداګرۍ د حجم پر بنسټ، په بیلابیلو هیوادونو کې د سوداګرۍ د آتشو د شمیر او د هغو د ټاکنې د میکانیزم په اړه د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛ | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| | ۱۹ (۱) د ښاروالیو د پروژو په شمول د انکشافي پروژو د څارنې لپاره، مشخصې طرحې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د اقتصاد وزارت |
| | ۲۰ (۱) د هیواد د هوایي ډګرونو له لارې د اسعارو پر وتلو د څارنې کړنلاره پلي او د پایلو په اړه دې د جمهوري ریاست مقام ته رپوټ وړاندې | د افغانستان بانک |

| مهال ویش | ماده | مؤسسه یا اداره |
|---|---|---|
| | کړي؛ | |
| | **۲۴ (۳)** د ټولو نیمه کاره پروژو لست دې د هغو د کار د بیرته پاتې کیدو او د کار د درېدو د دلایلو په ذکرولو سره برابر او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د ټولګټو وزارت |
| ۲ میاشتې | **۲ (۱)** د مالیې، اقتصاد او عدلیې وزارتونو په مرسته د نوموړي وزارت د تدارکاتي چارو بیا کتنل شوی روڼ او مکمل میکانیزم ترتیب او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د دفاع وزارت |
| | **۳ (۱)** د محکمو هغه حکمونه چې د عامه او خصوصي ملکیتونو د لاندې کولو په اړه نهایي شوي عملي کړي او د خپل کار د پایلو په اړه دې د چارو اداري لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشا ته لیکلی رپوټ وړاندې کړي؛ | د کورنیو چارو وزارت |
| | **۵ (۳)** د تدارکاتو د قانون د بیا کتنل شوې طرحې پړاوونه بشپړ کړي؛<br>**۵ (۴)** د ټاکنو قانون بشپړ او د تصویب لپاره یې د وزیرانو شورا ته واستوي؛ | د عدلیې وزارت |
| | **۶ (۴)** د څارنوالۍ د مراقبت اداره جوړه او یا د سترې محکمې د قضایي مراقبت اداري ته دې د هغې د واک سپارل وڅېړل شي او ځانګړې طرحه دې برابره د وزیرانو شورا ته وړاندې شي | د لویې څارنوالۍ اداره |
| **مهال ویش** | **ماده** | **موسسه یا اداره** |
| ۲ میاشتې | **۷ (۱)** په دولتي ادارو او خصوصي برخو کې له اداري فساد سره د مبارزې د تګلارې شاخصونه تر څارنې لاندې ونیسي او پایلې یې د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي؛ | د اداري فساد سره د مبارزې ستره اداره |
| | **۹ (۲)** له موقت حکومت څخه تر اوسه پورې د لااجرا مصوبو او د جمهوري ریاست د فرمانونو او حکمونو لست د وزارتونو او ادارو په تفکیک سره برابر او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د چارو اداري لوی ریاست |
| | **۱۷ (۳)** د ټوکیو د کنفرانس د ژمنو د تعقیبولو طرحه دې جوړه او عملي کړي او د چارو له پرمختګ څخه دې د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛ | د مالیې وزارت |
| ۳ میاشتې | **۱ (۱۷)** هیوادوالو ته د عام المنفعه ښو خدمتونو د وړاندې کولو د تنظیم په موخه، تر هغه وخته چې د ښاروالیو لپاره د ټاکنو زمینه برابرېږي، د ښاروالانو د ګومارلو بهیر دې له دې وروسته په لوړو پستونو کې د ټاکنو لپاره د ولسمشر د خاص مشورتي بورد په سلسله، او د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري په وړاندیز تر سره شي. د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د ولایتونو او لویو ولسوالیو ښاروالان، د شرایطو لرونکو وړ، پاکنفسه | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره |

| مهال وېش | ماده | مؤسسه یا اداره |
|---|---|---|
| | او مسلکي اشخاصو په معرفي کولو سره، د تعییناتو د بورد له لارې مقرر کړي؛ | |
| | ۴ (۲) د ډیپلوماتانو د استخدام میکانیزم او د هغوی کاري وړتیاوې بیا و ارزوي، ځانګړي اصلاحي وړاندیزونه دې د تصمیم نیولو لپاره د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي؛ | د بهرنیو چارو وزارت |
| | ۱۲ (۲) منظمه او ړنه تاکنیزه کړنلاره چې د خلکو ګډون په کې تضمین شي جوړه او د جمهوری ریاست، ملي شورا او ولایتي شوراګانو لپاره دې، جامع مهالوېش برابر کړي؛ | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |
| | ۱۷ (۶) د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمیسیون په همکاری د ملکي خدمتونو د کار کوونکو د معاشونو د یو شان کولو په هکله طرحه جوړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د مالیې وزارت |
| | ۱۷ (۷) د دولتي عوایدو د مجموعي ښه والي او د داسې بودجې د پراختیا او اجرا لپاره د اړوندو وزارتونو د ظرفیتونو د لوړولو طرحه چې د اړتیاوو د تلفیق او ملي لومړیتوبونو ځواب ویونکې وي جوړه او له نوو عایداتي سرچینو سره معرفي کړي؛ | د مالیې وزارت |
| | ۱۹ (۲) د مالیې او مخابراتو او معلوماتي تکنالوجی وزارتونو په همکاری ټول دولتي تړونونه چې د تیرو دریو کلونو په ترځ کې له ملي او نړیوالو کمپنیو او بنسټونو سره تړل شوي د تړونونو له ټولو جزییاتو سره (د تړونونو په لنډیز دې اکتفا نه کیږي)، د انټرنیتي پاڼو او اړوندو بنسټونو له لارې خپاره کړي؛ | د اقتصاد وزارت د مالیې او مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی د وزارتونو سره |
| | ۲۱ (۵) د هیواد د کانونو په تړونونو کې د رڼښت د تامین لپاره مشخصه طرحه بشپړه او د وزایرانو شورا ته وړاندې کړي. د نړیوالو منل شویو اصولو پر بنسټ په تړونونو کې رڼښت او د هیواد راتلونکې ته پاملرنه دې د کار په لومړیتوبونو کې راولي او د تړونونو ټول جزییات دې (د تړونونو په خلاصه دې اکتفا نه کیږي) د کانونو، مالیې او اقتصاد وزارتونو د وېب پاڼو له لارې خپاره کړي؛ | د کانونو وزارت |
| | ۲۵ (۱) د ځمکني ترانسپورت د عوایدو د راټولولو، روڼ، جامع او تجدید شوی میکانیزم د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت |
| | ۲۷ (۲) د عدلیې او کورنیو چارو وزارتونو، لویې څارنوالۍ، له فساد سره د مبارزې د ستری اداري او د سیمه ییزو ارګانونو دخپلواکې اداري په مرسته د هیواد په کچه (په لومړي ګام کې په لومړۍ درجه ولایتونو او بیا په نورو ولایتونو کې) د لاندې کول شوو دولتی او شخصي املاکو په اړه کره معلومات را ټول او د پریکړې لپاره دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت |
| مهال وېش | ماده | موسسه یا اداره |

| مهال وېش | ماده | مؤسسه یا اداره |
|---|---|---|
| ۳ میاشتې | **۳۱ (۱)** د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د راستنیدونکو د ښارګوټو د عادلانه وېش په هکله وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي؛ | د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت |
| ۶ میاشتې | **۱ (۲)** د افغانستان له سترې محکمې څخه هیله کیږي چې تر قضایي دوران لاندې ټولې دوسیې په خاصه توګه هغه دوسیې چې په اداري فساد، د ځمکې د لاندی کولو او زنځیره یی قتلونو پورې اړوندې دي، د هېواد په محکمو کې فیصله او نهایی کړي. | ستره محکمه |
| | **۳ (۵)** د کابل او اړونده ښاروالیو په همکاری د کابل په ښار او نورو مهمو ښارونو کې د ترافیکو پولیسو د فعالیت د ښه والي طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د کورنیو چارو وزارت |
| | **۵ (۵)** د ښاروالیو قانون او د لویې څارنوالی قانون بشپړ او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. | د عدلیې وزارت |
| | **۶(۷)** د څارنوالۍ ټول مسلکي او مرستندویه پرسونل وڅیړي او په فساد اخته کادرونه دې وپیژني، ځانګړي تدابیر دې ونیسي او د جمهوري ریاست مقام ته دې رپوټ ورکړي. | د لویې څارنوالی اداره |
| | **۷ (۲)** د خصوصي موسسو او دولتي چارواکو شکمنې شتمنی و ارزوي او د پایلو رپوټ دې په هرو دوو میاشتو کې جمهوري ریاست مقام ته ورکړي؛ | **د اداري فساد سره د مبارزې ستره اداره** |
| | **۷ (۳)** د هغې اداري ټول مسلکي او حمایوي پرسونل وڅیړي، په فساد اخته کادرونه دې وپیژندل شي، ځانګړي تدابیر دې ونیول شي او د پایلو په هکله دې د جمهوري ریاست مقام ته رپوټ ورکړي؛ | |
| | **۱۳ (۵)** د هېواد په مرکز او ولایتونو کې په شرایطو برابرو ښوونکو او استادانو او د آزادي سیالی او د قابلیتونو د تثبیت له لارې د ۱۱۰۰۰ تنو نوو ښوونکو او کارکوونکو د استخدام په اړه اقدام وکړي او هره میاشت دې د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛ | د پوهنې وزارت |
| | **۱۶ (۲)** د هېواد په بازارونو کې د درملو د واردولو او تولید بهیر له کمي او کیفي پلو وڅیړي، خپل مشخص نظریات او اصلاحي وړاندیزونه دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ | د عامې روغتیا وزارت |
| | **۲۵ (۵)** په ټول پرسونل او تشکیلاتي جوړښت باندې بیا کتنه وکړي او په فساد اخته کدرونه دې وپیژندل شي، ځانګړي تدابیر دې ونیول شی او د جمهوري ریاست مقام ته دې رپوټ ورکړي؛ | د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت |

## II مل پاڼه یا ضمیمه: د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د اړونده هغو مادو تفصیلي ارزونه چې څارل شوې دي

***۱ (۲) د افغانستان له سترې محکمې څخه غوښتنه کېږي چې تر قضایي دوران لاندې ټولې دوسیې په خاصه توګه هغه دوسیې چې په اداري فساد، د ځمکې د لاندې کول او زنځیره یې قتلونو پورې اړه لري ، د هیواد په محکمو کې فیصله او نهایی کړي.***

<u>وضعیت او ارزونه:</u> ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** سترې محکمې د دې فرمان په اړه یو لړ کړنې او تدابیر تر لاس لاندې نیولي دي. په ځانګړې توګه، سترې محکمې د دې محکمې د پلټنې یا تفتیش د څانګې تر مشرۍ لاندې یوې کمیټې ته دنده سپارلې ده تر څو داړ ترلاسه کړي چې د فرمان غوښتنې پوره کړی شوې دي. په دې کمیټه کې د عدلي وزارت، د چارو د اداري، د لویې څارنوالۍ د اداري، د کورنیو چارو د وزارت او د ملي امنیت د لوی ریاست استازي ګډون لري.

سترې محکمې په محکمو کې د ټولو دوسیو په اړه ځنې شمیرنې یا احصاییې ټولې کړې دي چې په هغو کې ټولې ۱۷۵۷۰ دوسیې پرتې دي چې د هغو له جملې نه ( ۱۰۲۶۶ جنایی، ۶۵۳۴ مدني، ۴۷۵ د اداري فساد اړونده دوسیې، ۲۸۳ د دولتي ملکیتونو د لاندی کول او ۱۲ دوسیې د ځنځیري وژنو) دوسیې دي. د دوسیو د تراکم د مخنیوي لپاره سترې محکمې لاندې تدابیر تر لاسه لاندې نیولي دي:

1. د افغانستان د بیلابیلو محکمو سره د موجودو دوسیو په اړه د احصاییو ټولول؛
2. د فیصله شوو یا د محکومیت د صادرېدو د اړونده دوسیو په اړه د رپوټونو ترلاسه کول او په اړونده محکمو کې د موجودو دوسیو د کار تسریع کول؛
3. د هغه محکمو تشخیصول چې اړونده کارونه یې وروسته پاتې دي او د مسلکي کارکونکو مقررول ؛
4. د مظنونو او تورنو یا متهمو کسانو د موقف په اړه د پرېکړې کول؛
5. د بانفوذه کسانو د مداخلې او لاسوهنې په اړه د معلوماتو را غونډول او د دا ډول لاسوهنو د مخنیوي لپاره د رغنده ګامونو پورته کول؛
6. د مامورینو په استخدام کې د اړوند طرزالعملونو یا کړنلارو تعقیبول او د دوی په مقررۍ کې د ناوړه مداخلو یا نفوذ مخنیوی؛ او
7. د وړاندې شوو پلانونو د وضعیت په اړه د معلوماتو راټولول او د محکمو لخوا د اړونده پرېکړو په اړه د تاکل شوې کمیټې لاربښوونې.

د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان له صادرېدو کابو ۷ میاشتې وروسته، سترې محکمې د پرانیستل شوو قضیو یا دوسیو شمیر له ۱۷۵۷۰ نه ۱۰۰۰۰ دوسیو ته را ښکته کړی دی. سره له دې نوموړې محکمې یادونه کړې چې د اړونده محکمو په وړاندې ځنې خنډونه او ستونزې شته چې د هغو له وجې نشي کولی د ځمکې

په لاندې کول تورن کسان چې ډېری یې د ځمکو مافیا ، دولتي چارواکي یا یې خپلوان دي، د قانون منګلو ته وسپاري.

په همدې توګه ستره محکمې یادونه کړې چې د قضیو د پراونو بشپړول داسې یو بهیر دی چې په هغو کې د ټول عدلي سکتور اړونده ادارې لکه ترټولو مهمه، د لويې څارنوالۍ اداره، ښکیله وي. نوموړې محکمې ویلي چې په کابل کې د ډېریو قضیو د تعلیق او ځنډېدلو لامل د لويې څارنوالۍ سوکه یا بطي اجراات ګڼل کیږي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې استازو له ځنې څارنوالانو سره مرکې کړې او د هغو په ترڅ کې یی دا څرګنده کړې چې که څه هم څارنوالان د قانون له مخې د دې واك لري خو څارنوالان د کافي شواهدو د نه شتون په صورت کې اړونده دوسیې نه شي فیصله کولی. د لويې څارنوالۍ اداره دا ادعاوې چې ګواکي دوسیې هلته ځنډول کیږي نه مني، او برعکس وایی چې ستره محکمه کافي بشري سرچینې نه لري.

له دې مشاجرې او شخړې سره سره، دا روښانه ده چې دواړه نوموړې اداري په مسلکي او اغیزمنه توګه د اړونده دوسیو د پړاونو په بشپړولو کې مهم رول لوبوي، نو د متقابلې همکارۍ د کچې لوړتیا به دا خبره ډاډمنه کړي چې دوی خپل اړونده مکلفیتونه په ښه توګه ترسره کړی. په دې اړه د اړونده دوسیو د سمبالولو او د چارو د همغږۍ میکانیزمونه یا جوړښتونه ډېرې ښې وسیلې چې د دې چارې ترسره کول ډاډمنوي.

***د ۱ مادې (۱۵) بند دولتي اداري له دې منع کوی چې د ودانیزو چارو، پیرودنو او د خدمتونو د برابرولو لپاره دې د دولتي لوړپوړو چارواکو یا د هغو له خپلوانو، استازو او هغو کسانو سره چې د دوی له ملاتړه برخمن دي تړونونه یا مقاولې لاسلیك شي. دا ډول کړنې به اداري فساد وګڼل شي او مرتکبین به یې د څارنوالۍ لخوا تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي. (تر اجرا لاندې ده) (ټول)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***پلې شوې نه ده.*** د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې د خپلواکی او ګډې کمیټې یو شمیر غړو له یو شمیر وزراتونو څخه لیدنه وکړه چې په هغو کې د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت، د حج او اوقافو وزارت، د مالیې وزارت، د کانونو وزارت، د چارو د اداري له لوی ریاست راځي. ډېری نوموړو وزارتونو ویل چې دوی د دې مادې احکام پلي کړي دي. هغه رپوټونه چې له نورو وزارتونو نه د چارو اداري ته برابر شوي څرګندوي چې عمومي اراده دا ده چې دوی به دا ډول اوامر عملي کړي او دوی به د خدمتونو د برابرولو لپاره د دولتي لوړپوړو مامورینو، د هغوی لخوا د ټاکل شوو او یا له هغوی سره چې د دوی له ملاتړه برخمن دي، تړونونه لاسلیك نه کړي. خو په عمل کی تړونونه هغو شرکتونو ته هم ورکول کیږي چې له نوموړو مامورینو سره نږدې اړیکې او مناسبات لري. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې تر اوسه داسې مدارك او معلومات نه دي ترلاسه کړي چې دا ډول کړنې دې جرم ګڼل شوي وی او د لويې څارنوالۍ لخوا هم داسې هیڅ کوم رپوټ نه شته چې دوی دې د داسې ادعاوو پر بنسټ کوم کس نیولی وي.

***۱ (۱۷) د عام المنفعه ښو خدمتونو د وړاندې کولو د تنظیم په موخه، تر هغه وخته چې د ښاروالیو لپاره د ټاکنو زمینه برابرېږي، د ښاروالانو د په کار ګومارلو بهیر دې له دې وروسته په لوړو بستونو کې د ټاکنو***

***لپاره د ولسمشر د خاص مشورتي بورد له لارې، او د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري په وړاندېز تر سره شي. د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د ولایتونو او لویو ولسوالیو ښاروالان، د شرایطو لرونکو وړ، سپېڅلي او مسلکي کسانو په معرفي کولو سره، د تعییناتو د بورد له لارې مقرر کړي. ( دری میاشتې) (د سیمه ییزو ارګانونو څپلواکه اداره)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>:** ***په بشپړه توګه پلې شوې ده.*** د رارسیدلو رپوټونو له مخې، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري د ۳۳ ښاروالیو اجراات ارزولي او په دې اړه یې خپل رپوټ د چارو اداري ته لیږلی دی. اوسمهال په دندو د ښاروالانو د ګومارلو چاره د دې فرمان له احکامو سره سم ترسره کیږي. نوموړې اداره ځانګړې بورد ته د وړ کاندیدانو سپارښتنه کوي او بیا نوموړی بورد د دوی د ټاکلو په اړه پرېکړه کوي.

***۲ (۱) د مالیې، اقتصاد او عدلیې چارو د وزارتونو په مرسته د نوموړي وزارت (دفاع) د تدارکاتي چارو بیا کتل شوی روڼ او بشپړ میکانیزم ترتیب او د وزیرانو شورا ته یې دې وړاندې کړي. (۲ میاشتې) ( د ملي دفاع وزارت)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>:** ***پلې شوې نه ده.*** وروستي رپوټونه څرګندوي چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړونده میکانیزمونو یا جوړښتونو او د افغانستان د دفاعي بودجې په کنترولولو کې ډېره لږ روڼتیا تر سترګو کیږي او په دې توګه د اداري فساد د لوړې کچې له ګواښ سره مخامخ دي. دا د ډېر اهمیت وړ ګڼل کیږي چې د افغانستان دفاعي بودجه په داسې حال کې ډېرېږي چې نړیوال ځواکونه خپل ټغر ټولوي او د تدارکاتو چاره په ډېرېدونکې توګه د ملي دفاع د وزارت لخوا تر سره کیږي.

***۳ (۱) د محکمو هغه حکمونه چې د عامه او خصوصي ملکیتونو د لاندی کول په اړه نهایي شوي عملي کړي او د خپل کار د پایلو په اړه دې د چارو اداري لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشا ته لیکلی رپوټ وړاندې کړي. (۲ میاشتې) ( د کورنیو چارو وزارت)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>:** ***پلې شوې نه ده.*** د کورنیو چارو وزارت رپوټ وکوي چې د ځمکو د لاندی کولو څه نا څه ۱۹۱ قضیې د چارو اداري او لویې څارنوالۍ ته د تحقیق لپاره لیږل شوې دی، چې تر اوسه یې کوم ځواب له څارنوالۍ یا محکمې څخه نه دی ترلاسه کړی. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه نه شي کولی دا تصدیق کړي چې د ځمکو د لاندی کولو په اړه د محاکمو لخوا څومره فیصلې صادرې شوې دي او له دې امله یې ونه شول کولی چې دا و ارزوي چې نوموړې پرېکړې پلې شوې هم دي که نه. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه به د نوموړی مادې څارلو ته په نوره ژوره توګه په راتلونکو میاشتو کې دوام ورکړي.

***۳ (۵) د کابل او اړونده نور ښاروالیو په همکارۍ دې د کابل په ښار او نورو مهمو ښارونو کې د ترافیکو د پولیسو د فعالیت د ښه والي په موخه یوه طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته یې دې وړاندې کړي. (۳ میاشتې) ( د کورنیو چارو وزارت)***

<u>وضعیت او ارزونه</u>: ***پلې شوې نه ده.*** د دې مادې د اجرا د څارلو په موخه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې په دې اړه د کابل ښاروالۍ د پلان او پالیسۍ له ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې مادې د پلي کیدو په اړه یې منفي ځواب ترلاسه کړ. د کورنیو چارو وزارت وایي چې دوی یو ځواب برابر کړی. خو سره له دې دوی وایي چې داسې کوم پلان به ترتیب نه کړي ځکه دا به ملیونونه ډالرو او بنسټونو ته اړتیا ولري.

***۳ (۷) د سمونوالی تر رتبې پورې دې، د وړ منسوبینو ترفیعات طی مراحل او اجرا شي (۱ میاشت) (د کورنیو چارو وزارت)***

<u>وضعیت او ارزونه</u>: ***په بشپړه توګه پلې شوې ده.*** د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان له مخې د کورنیو چارو وزارت د ۲۳۹۵ تنو وړ افسرانو عادي او ۱۵۴کسو فوق العاده ترفیعات اجرا کړي دي.

***۴ (۲) د دېپلوماتانو د ګمارنې میکانیزم او د هغوی کاري ورتیاوې دې بیا و ارزوي، ځانګړي اصلاحي وړاندیزونه دې د پرېکړې لپاره د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي. (د بهرنیو چارو وزارت) (۳ میاشتې)***

<u>وضعیت او ارزونه</u>: ***پلې شوې نه ده.*** د بهرنیو چارو وزارت د ولسمشر دفتر ته د دېپلوماتانو د ټاکلو په اړه له یوه وړاندیز سره رپوټ ورکړی دی. په دې توګه نوموړی وزارت یو کمیسیون ته دنده سپارلې چې مامورین د دوی د خدمت د مودې، د بهرنیو ژبو د مهارت او په دیپلوماتیکو دندو کې د دوی د اغیزمنتیا پر بنسټ وګمارل شی.

هغه کسان چې نوي په کارګومارل کیږي، د دریو کلونو لپاره به د وزارت دننه به کابل کې دنده تر سره کوي او له هغو وروسته په کلنۍ توګه د یوې ارزونې تابع ګرځي. په کابل کې له دری کاله کار وروسته به یوه مرکه ورسره ترسره کیږي تر څو په بهرنیو هیوادونو کې د دندې د ترسره کولو لپاره د نظر وړ کس وړتیا وارزول شي. د سفارت دریم سکرتر به د ۳ کلونو لپاره مقرریږي چې له هغې وروسته به وزارت ته د ۳ نورو کلونو لپاره د دندې ترسره کولو ته راستنیږي. د ارزونې پروسه بیا ترسره کیږي، د ښې ارزونې په پایله کې به نوموړی کس د دریو کلونو لپاره د دوهم سکرتر په توګه ټاکل کیږي او بیا به کابل ته د ۳ نورو کلونو دندې لپاره را ستنیږي او له هغې وروسته به ښایی د دې وړتیا ولري چې د ۱ سکرتر په توګه به دنده وګومارل شي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټې غړو د هغو کسانو په ګډون چې بهر په اړونده ځانګو کې په دندو بوخت وو، د وزارت له ځنې مامورینو سره مرکې ترسره کړې. په پایله کې دا څرګنده شوه چې ځنې خلك وو چې په کلونو یی په وزارت کې کار کړی خو په بهرنیو ځانګو کې په کار نه وو ګومارل شوي، او ځنې داسې وو چې سم دلاسه هلته مقرر شوي وو. د دې مرکو څخه جوته شوه چې د دیپلوماتانو مقرري په رڼه توګه نه ترسره کیږي او د هغې د مقررۍ په بهیر کې د حکومت د لوړ پوړو چارواکو، د ملي شورا د غړو و افغان وزیرانو اغیز او نفوذ اوس هم موجود دی. پایله یی دا چې داسی کسان په دیپلوماتیکو بستونو کې ټاکل شوي چې دیپلوماتیکه پوهه نه لري، په دیپلوماتیکو غونډو، کنفرانسونو او نورو دیپلوماتیکو مراسمو کې له دې امله ګډون نه شي کولی چې اړینه پوهه او په ژبه نه پوهیږی. د وزارت

یوه بل مامور همدارنګه څرګنده کړه چې وزارت په تیرو دریو کلونو کې د شمولیت یوازې یوه آزموینه په لاره اچولې ده.

***۵ (۳) د تدارکاتو د قانون د بیا کتل شوې طرحې پړاوونه بشپړ کړي (۲ میاشتې) (د عدلیې وزارت)***

وضعیت او ارزونه: ***پلې شوې نه ده.*** د عامه پیرودنو قانون تجدید او د عدلیې وزرات ته د بیاکتنې لپاره لیږل شوی دی. نوموړي وزارت له بیلابیلو ادارو سره د دې قانون په اړه له مشورو وروسته د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ په میاشت کې د وزیرانو شورا ته استولی دی. د وزیرانو د شورا اقتصادي جرګه ګۍ د نوموړي کال د چنګاښ په میاشت پر نوموړي قانون باندې بحث وکړ او له تصویب وروسته یې د وزیرانو عمومي غونډې ته راجع کړ او هغو نوموړی قانون مسترد او د عدلیې له وزارت نه یې غوښتنه وکړه چې د نوموړی قانون په اړه نورې پراخه سلا مشورې تر سره کړي.

د عدلیې وزارت بیلابیلو ادارو ته په دې اړه د دوی د نظریو د راټولولو لپاره لیکونه واستول او د مالیه وزارت د تدارکاتو د کړنلارې واحد په دې باب د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ په میاشت کې یو ورکشاپ دایر کړی ترڅو ټول تعدیلات له اړونده ادارو سره تر بحث لاندې ونیسي. د نوموړې ځانګې غړو د نړیوال بانک، د پیسو له نړیوال صندوق ، د آسیایی پراختیا بانک، له افریقایی بانک، له ایساف او د امریکې د نړیوالې پراختیا د ادارې له استازو په ګډون د نړیوالې ټولنې له ګڼ شمیر استازو سره وکتل او په دې اړه یې ورسره خبرې وکړې.

***۵ (۴) د ټاکنو قانون دې بشپړ او د تصویب لپاره یې دې د وزیرانو شورا ته واستوي. (۲ میاشتې) (د عدلیې وزارت)***

وضعیت او ارزونه: ***پلې شوې نه ده.*** د ټول ټاکنو قانون د وزیرانو په شورا کې تر غور او بحث وروسته تصویب اوس مهال د ملي شورا سره د غور لپاره پروت دی. دا قانون ۱۳ څپرکي یا فصلونه او ۷۲ مادې لري. او ښایی د ټاکنو د شکایاتو کمیسون ترې حذف شي او اړونده دندې به په مرکز او ولایاتو کې د مرکزي استیناف محکمو ته سپارل شوې دي. داسې بریښي چې دا موضوع د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسون د تشکیل او واکونو له قانون سره چې اوس په ملي شورا کې تر غور لاندې دی، په ټکر کې ده. د رپوټونو له مخې په نوموړي قانون کې د اصلاحاتو له وړاندیزونو سره سره، سترې محکمې لا دمخه په دې کار پیل کړی چې د شکایاتو د اوریدلو لپاره یوه نوې مقرره وضع کړي.

په همدې توګه په وړاندې شوو تعدیلونو کې د نوماندانو یا کاندیدانو د ارزونې لپاره داسې احکام شته چې د هغو پربنسټ نوموړی نوماندان د جرمي سوابقو، په وسلوالو ډلو کې د غړیتوب او له دولتي دندو نه د استعفاله مخې ارزول کیږي. په همدې توګه د ارزولو په پروسه کې د تحصیلي اسنادو ارزونه او د منجمنټ یا سمبالونې اړونده تجربه چې د ولسمشرۍ او ملي شورا ته د نوماندانو د وړتیاوو د معیارونو د پوره کولو لپاره اړینه ګڼل کیږي، راځي. خو په اغیزمنه توګه د دې برخو د ارزولو څرنګوالی لا هم روښانه نه دی. په ټاکنیز بهیر کې د لیاقت او وړتیا پر بنسټ د نوماندانو د منلو معیارونه د دې قانون په احکامو کې واضح

او صراحت لري خو د جوړښتونو یا میکانیزمونو او هغو لارو چارو په اړه چې وبه کارول شي، لاهم اندېښنې پرخپل ځای پاتې دي.

***۵ (۵) د ښاروالیو قانون او د لویې څارنوالی قانون بشپړ او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. (۶ میاشتې) (د عدلیې وزارت)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلي شوې ده.*** په افغانستان کې د ښاروالیو اوسنی قانون د طالبانو د رژیم په وخت کې طرح او تصویب شوی وو. په تیرو څو کلونو کې افغان چارواکي د دې قانون په نوی کولو باندې بوخت دي. تر ټولو مهمه دا ده چې نوی قانون به له تصویب مخکې په ټول افغانستان کې د وګړو لخوا ارزول کیږي. د ښاروالیو د قانون اوسنۍ مسوده د عدلیې وزارت د تقنین ریاست لخوا نهایي او ډېر ژر به د وزیرانو د شورا د قانون جرګې ته وسپارل شي. نوموړې مسوده له بیلابیلو همکارانو سره له د سلامشورې وروسته د سیمه ایزه ارګانونو له خپلواکې ادارې او کابل ښاروالۍ سره د نظریاتو د وړاندې کولو په موخه، شریکه شوې ده. د سیمه ایزه ارګانونو خپلواکې ادارې د ملګرو ملتونو له پراختیایی پروګرام، د ښار/ هیواد د منجمنټ له نړیوالې ټولنې / سیمه ایز ( International City/County Management Association/ Regional)، د کلیوالي خلکو لپاره د افغان ښاروالیو پروګرام ( Afghan Municipalities Program for Urban Populations) سره په همغږۍ کې له ۱۲۰۰ کسانو نه د ډېرو کسانو په ګډون چې له بیلابیلو ولایاتو یې په کې ګډون کړی وو، عامه ورکشاپونه دایر کړل.

د لویې څارنوالۍ د اړونده قانون مسوده لا دمخه ترتیب او د ولسمشر د کتنې او منظورۍ لپاره استول شوې ده.

***۶ (۱) په توقیف خانو کې د ټولو کسانو دوسیې دې د اړوندو څارنوالیو لخوا وڅیړل شي،له کره شواهد پرته دې له توقیفولو مخنیوی وشي او په توقیف خانو کې دې د توقیف شوو کسانو بشپړ لست د اتهاماتو له توضیح سره یو ځای برابر او عدلي او قضایي کمیټې ته وړاندې شي. (یوه میاشت) ( د لویې څارنوالۍ دفتر)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلي شوې ده.*** د ۶ مادې (۱) بند له لوې څارنوالۍ غواړي چې په توقیف ځایونو کې دې د ټولو کسانو قضیې وڅیړل شي، له شواهد پرته دې له توقیفولو څخه مخنیوی وکړي او په توقیف خانو کې دې د توقیف شوو کسانو بشپړ لست د اتهام له توضیح سره یو ځای برابر او د عدلي او قضایي کمیټې ته دې وړاندې کړي. لویې څارنوالۍ ډاډ ورکړی چې د فرمان دا ماده پلي شوې ده. سره له دې هم د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې د خپلواکې او ګډې کمیټې غړو د بشر د حقوقو له خپلواک کمیسون او د کابل توقیف خانې له چارواکو سره په دې اړه خبرې وکړې، دوی ویل چې په دې اړه د څارنوالۍ رپوټ سم نه دی.

د لویې څارنوالۍ د ادارې د رسمي رپوټونو له مخې د کابل په ښار کې د توقیف شوو کسانو شمیر ۱۰۱ تنه وو، په داسې حال کې چې د کابل د توقیف آمریت د توقیف شوو کسانو شمیر د ۴۵۰ کسانو شا او خوا رپوټ ورکوي. د اداری فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې داسې معلومات هم ترلاسه کړي چې څرګندوي، لږ تر لږه ۴۹ کسه یا د کابل په توقیف کې د توقیف شوو کسانو ۱۰ سلنه د هغه

مقررې په خلاف ساتل کیږي چې د توقیف ځایونو لپاره تدوین شوې ده. دا په دې مانا ده چې ۱۰ سلنه توقیفیان د کافي زمینو پرته ساتل کیږي او دا په عدلی او قضایی سیستم کې د سیستماتیکو سرغړونو ښکارندویی کوي.

د کابل د توقیف د آمریت چارواکي وایی چې دا موضوع لادمخه د لوېې څارنوالۍ اداري او اړونده محکمو ته رسول شوې ده خو په دې اړه کومې اړینې څېړنې نه دې تر سره شوې. په ستره محکمه کې د پلټنې یا تفتیش د څانګې استازي وایی چې دوی د کابل د استیناف محکمې ته وروسته له هغې یو لیك استولی چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې لخوا ورته د کابل په توقیف کې د توقیفیانو یو لست وړاندی شو. د نوموړې څانګې د استازو د ویناوو له مخې، ډېری کسان ځکه په توقیف کې ساتل کیږي چې د هغوی مدافع وکیلان ځواب نه ورکوي او یا دا چې د محکمې د دایرېدو په نیته کې ځنډ پیښیږی.

د استیناف محکمې، د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته ډاډ ورکړ چې دوی به په دې اړه چټك ګام پورته او د قانون سره سمه پرېکړه وکړي. د توقیفیانو د اړونده لست د برخلیك د څرنګوالي له پیدا کولو وروسته یی په تعقیبي کړنو کې دا څرګنده شوه چې د استیناف اداري د استیناف څارنوالۍ ته په دې اړه یو لیك استولی دی تر څو نوموړې اداره اړونده هغه محکمې تشخیص کړي چې د تورنو یا متهمو کسانو دوسیې په کې بی پوښتنی پاتې دي.

وروسته له دې چې په کابل کې د ناقانونه توقیفونو کچه بربنډه شوه، د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې د افغانستان ولسمشر ته یو لیك واستوه او دهغو په ترځ یی نوموړی له دې خبر کړ چې خلك په توقیفځایونو کې پرته له کوم واضح یا رڼه برخلیك څخه ساتل کیږي. له دې وروسته جلاَلتماب ولسمشر د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ په میاشت کې یو بل فرمان صادر کړ او د هغو په ترځ کې یی ټولو اړونده ادارو ته لارښوونه وکړه چې اړونده موضوع دی تر غور لاندې ونیول شي او د موجودې ستونزې په لرې کولو کې دې اقدام وکړي. اړونده ادارو دې فرمان ته د هغه ګڼ شمیر توقیفیانو په خلاصولو سره په چټکۍ غبرګون وښود چې په ناقانونه توګه په بند کې ساتل کیدل. د هغو ۴۹ تنو له ډلی څخه چې د کابل په توقیف کې تشخیص شوي وو، ۱۲ کسه یی لااوس هم په توقیف کې دي، ۱۰ کسو یی برائت واخیست، ۲۴ کسه یی نورو نظارتخانو یا څارنتونونو یا زندانونو ته بدل کړی شول او ۲ تنه یی د محکمې له لوري محکوم کړی شول.

په همدې توګه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې د هرات په نظارتخانه کې، چیرته چې تورن کسان د قانون خلاف معمولاَ د یوې میاشتې لپاره ساتل کیږی، ځنې څیړنې او ګروېږنې تر سره کړې. دا په داسې حال کې ده چې د قانون د احکامو له مخې تورن کسان هلته یوازې د ۷۲ ساعتونو لپاره ساتل کیدی شي. د فرمان له صادرېدو وروسته د هرات د څارنتون د مامورینو د هڅو په پایله کې او د هغه هوکړه لیك سره سم چې د څارنوالۍ د اداري او څارنتون د مرکز تر منځ لاسلیك شو، نوموړې موده شپږو ورځو ته محدوده شوه. د دې اقداماتو عملي پایله دا شوه چې د هرات څارنتون له تیر مهال سره په پرتله چې

له ۱۰۰ ډېر کسان تر څارنې لاندې بندیان وو، د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ له میاشتې وروسته یوازې ۳۰ کسه توقیفیان تر څارنې لاندې لرل.

د دې په بدل کې، د هرات څارنتون له سترو ستوزو سره مخامخ وو. د هغو معلوماتو له مخې چې د هرات د څارنې د مرکز لخوا برابر شوي، د هرات د څارنې په مرکزي ودانۍ کې څه ناڅه ۴۸۰ داسې کسان په توقیف کې دي چې اړونده دوسیې یې د سترې محکمې لخوا ځنډول شوې یا په تعلیق کې اچول شوې دي. په دې دوسیو کې هغه توقیفیان هم شامل دي چې د ۵ کلونو لپاره په بند کې ساتل شوي او اوس هم د قضایی پرېکړې منتظر دي. د اړونده دوسیو د پړاونو د بشپړولو یا طی مراحل لپاره د سرچینو نه شتون د ناقانونه توقیف د یوه مهم لامل په توګه تشخیص شو. د یوه بیل زندان نه شتون هم د دې لامل دی چې توقیفیان دې د هغو بندیانو سره یوځای په بند کې وساتل شي چې د اړونده دوسیو په اړه یې د محکمو لخوا پرېکړه شوې او دوی په بند محکوم شوي دي.

***۶ (۲) د ولایتونو د څارنوالیو د رییسانو مقرري لکه د وزارتونو او نورو ادرو د رییسانو په څیر باید د افغانستان د اسلامي جمهوري ریاست مقام ته وړاندیز وشي (۱ میاشت) (لویه څارنوالي)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***پلې شوې نه ده.*** د ولایاتو د څارنوالۍ د ریسانو مقرري باید د جمهوري ریاست دفتر ته پیشنهاد او منظوري یې واخستل شي. هغه معلومات چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته رسیدلي دي څرګندوي چې لوی څارنوالی د ولایاتو د څارنوالیو ۱۳ رییسان پیشنهاد کړل چې منظور شوي. که څه هم ۱۳ له دې کسانو پخوا هم په څارنوالیو کې کارکاوه، دا په دې مانا ده چې د نوموړو ولایاتو په څارنوالیو کې کوم ادلون بدلون نه دی رامنځته شوی. په همدې توګه هغه معلومات چې کمیټې ته رارسیدلي دي څرګندوي چې وروستنی ۱۵ کسه پیشنهاد شوي څارنوالان د ولسمشر لخوا د رپوټونو له مخې په دې دلیل ونه منل شول چې برحاله څارنوالان بیا هم پیشنهاد شوي وو.

***۶ (۴) د لویې څارنوالۍ د مراقبت د اداره جوړه او یا د سترې محکمې د قضایې مراقبت اداري ته دې د هغې د واک سپارل وڅیړل شی او ځانګړې طرحه دې برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې شي. (۲ میاشتې) ( دلویې څارنوالۍ اداره)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د لویې څارنوالۍ د څارنې د اړونده چارو ریاست څرګنده کړې ده چې د راتلونکي مالي کال لپاره یوه بودیجه منظوره شوې ده تر څو د مراقبت او څارنې داسې یوه اداره تشکیل شي چې د تفتیش یا پلټنو د ریاست په څیر دندې به ترسره کوي خو له پراخه واکونو او ګڼ پرسونل سره. د دې ادارې د تشکیلولو لپاره اړینه بودجه د ملي شورا لخوا تصویب شوې او د لویې څارنوالۍ اداره په دې تکل کې ده چې ۵۰ – ۶۰ کسه مسلکي څارنوالان په دې اداره کې په کار وګوماري. د دوی دنده به دا وي چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د څارنوالانو په اړه د اداري فساد اړونده دوسیې تر عدلي او قانوني تعقیب لاندې ونیسي.

د لویې څارنوالۍ اداري په دې ټینګار کړی تر هغې چې د څارلو او مراقبت دا نوې اداره تشکیلیږي، نو پلټنې د موجود ریاست د مرستندویه اداري کارکونکو شمیر دې ډېر کړی شي. د ۴۵ ګڼې فرمان له مخې

۱۰ کسه مسلکي څارنوالان د لویې څارنوالۍ د داخلي پلټنې یا تفتیش د ریاست پراخولو لپاره په نوموړې ریاست کې په کارګومارل شوي دي. اوس په دې ریاست کې ۳۲ کسه مسلکي څارنوالان په کار بوخت دي او دهغوی دنده دا ده چې د لویې څارنوالۍ د اړونده کارکونکو اجراات تفتیش او وڅاري. د دوی د کاری پلان له مخې د دوی دنده دا ده چې په کابل او ولایتونو کې د لویې څارنوالۍ د اړونده ادارو اجراات تفتیش او وڅاري.

د تفتیش یا پلټنو ریاست دنده لري چې د لویې څارنوالۍ د داخلی تفتیش د اړونده چارو په اړه لوی څارنوال ته رپوټ وړاندې کړي. دا څانګه د داخلي یا کورنۍ څارنې یا مراقبت او د هغو شکایاتو د څیړلو دنده په غاړه لري چې څارنوالانو په اړه موجود وي. په همدې توګه به د کارکونکو ورځنیو کړنو څارنه او ارزونه ترسره کوي او ټول هغه جنایی تورونه لکه طرزالعملي، اداري فساد او اخلاقي یا سلوکي ناوړه کړنې به څیړي.

د لویې څارنوالۍ د معلوماتو له مخې دغه څانګه په ډېره ښه توګه کار کوي، خود اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې د دوی د اړونده کارونو په اړه د پرمختګ کوم رپوټ یا لاسته راوړنې پیدا نکړې. سربیره پردې نوموړی ریاست د خپل فعالیت حدود او مکلفیتونه نه دي تشخیص کړي.

***۶(۷) د څارنوالۍ ټول مسلکي او مرستندویه پرسونل وڅیړي او په فساد اخته کادرونه دې وپېژني، ځانګړي تدابیر دې ونیسي او د جمهوري ریاست مقام ته دې رپوټ ورکړي. (۶ میاشتې) (د لویې څارنوالۍ اداره)***

<u>**وضعیت او ارزونه:**</u> ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټې د څارنې کړنی دا څرګندوي چې د لویې څارنوالۍ اداري خپل پرسونل ارزولی او ۳۰ کسان یی بیلابیلو ځایونو ته تبدیل کړي دي خو نوموړې اداري په دې اړه کوم دلیل نه دی څرګند کړی چې دا ګام یی توجیه کړي او د دوی اړونده رپوټ هم د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان د ۶ مادې د (۷) بند غوښتنې نه پوره کوي. په همدې توګه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې، په فساد ککړو کسانو د تشخیص لپاره اړونده اقدمات د رضایت وړ نه ګڼي. دا نه یوازې د وروستۍ ټاکل شوې نیټې خبره ده بلکه په همدې توګه د دې ارزونې د ترسره کولو لپاره تدبیرونه او میکانیزمونه یاجوړښتونه هم د منلو وړ نه دي. هغه لستونه چې په دې اړه د لویې څارنوالۍ لخوا د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې په واك کې ورکړل شوي دي، یوازې ټیټ پوړي مامورین تبدیل شوي او لوړپوړي چارواکي په کی نه رانغاړي.

***۷ (۱) په دولتي ادارو او خصوصي سکتور کې له اداري فساد سره د مبارزې د تګلارې شاخصونه تر څارنې لاندې ونیسي او پایلې یې د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي. (۲ میاشتې) ( د اداري فساد د څارنې ستره اداره)***

<u>**وضعیت او ارزونه:**</u> ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د اداري فساد پروړاندې د څارنی ستره اداري له اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې سره مرسته او همکاري نه ده کړې، خو د چارو د اداري عمومي ریاست څرګنده کړې چې د اداري فساد پر وړاندی د مبارزې د ستری

اداري لخوا په دولتي او خصوصي سکتور کې د اداري فساد ضد د اړوندې تګلارې د پلي کېدو د مراقبت او څارنې لپاره کاري ډلې جوړې شوې دي.

په تشکیل شوې نوموړې کاري ډله کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د سترې ادارې یو استازی غړیتوب لري او په ټولیزه توګه په یوه یا دوو میاشتو کې یو ځل غونډه کوي او کله هم داسې وي چې هېڅ غونډه نه کوي یا ځنې کسان پکې برخه نه اخلي. د نوموړې کاري ډلې غړو ته د نړیوالې ټولنې په مرسته د اداري فساد پروړاندې د سترې ادارې لخوا د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په اړه روزنه ورکول کیږي.

***۷ (۲) د خصوصي موسسو او دولتي چارواکو شکمنې شتمنی و ارزوي او د پایلو رپوټ دې په هرو دوو میاشتو کې د جمهوري ریاست مقام ته ورکړي. (۶ میاشتې) (د اداري فساد پر ضد عالي اداره)***

__وضعیت او ارزونه__: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د اداري فساد پروړاندې د څارنې ستره اداره وایي چې دوی اړونده څیړنې بشپړې کړې او د چارو ادارې ته یې په دې اړه رپوټ ورکړی دی، خو کاپي به یې له اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې سره شریکه نه کړي. د دې مادې په اړه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې څارنې څرګندوي چې د اداري فساد پروړاندی د څارنی د سترې ادارې د ملي امنیت د لوی ریاست په ګډون له ځنې وزارتونو سره هوکړه لیکونه یا تفاهم لیکونه لاسلیك کړي تر څو د پانګو یا شتمنیو د ثبت اړونده بهیر پیاوړی شي. د اداری فساد پروړاندی د څارنې د سترې ادارې لخوا د پانګو په اړه خپاره شوي دغه معلومات ډېر روښانه نه دي او د پانګو د اصلي سرچینې په اړه جزییات نه وړاندې کوي او په دې توګه داسې نه ښکاري چې په دې برخه کې دې د اساسي قانون غوښتنې پوره کړی شي. په دې پسې نوموړې عالي اداري د دولتي لوړ پوړو چارواکو د پانګو په اړه د ثبت شوو معلوماتو خپرول بند کړل.

***۷ (۳) خپل ټول مسلکي او مرستندویه اداري پرسونل وڅیړي، په فساد اخته کادرونه دې وپیژندل شي، ځانګړې تدابیر دې ونیول شي او د پایلو په هکله دې د جمهوري ریاست مقام ته رپوټ ورکړي. (۶ میاشتې) (د اداري فساد پروړاندې د څارنې عالي اداره)***

__وضعیت او ارزونه__: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د اداري فساد پروړاندې د څارنې سترې اداري خپله ارزونه بشپړه کړې او د چارو ادارې ته یې سپارلې ، د نوموړې اداري نه د یوې رسمي غونډې په ترڅ د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې لخوا غوښتنه وشوه چې د نوموړې رپوټ یا د اړونده تفصیلاتو یوه کاپي دې د دوی په واك کې ورکړل شي، خو له بده مرغه دغه غوښتنه رد شوه. د اداری فساد پروړاندی د څارنی سترې اداري چارواکې غیر رسمي ځوابونه څرګندوي چې د داخلي پلټنو ادارې ته د اداري فساد د اړونده داخلي قضیو د څیړنې په موخه ډېر واك ورکړل شوی دی چې تر اوسه یې ګڼ شمیر پلټنې هم پیل کړي چې د لوړپوړو چارواکو له ملاتړه برخمن دي.

***۸ (۲) د ولایاتو د مرستیالانو بستونه دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواك کمیسیون په مرسته آزادې سیالۍ ته وړاندې شي، د وطن دوستو، ریښتینو، لایقو او وړ کدرونو په استخدام دې اقدام وکړي. (کار پرې روان دی) (د سیمه ایزه ارګانونو خپلواکه اداره)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>:** ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته رارسیدلي معلومات څرګندوي چې د ملکي خدمتونو کمیسیون د سیمه ایزه ارګانونو د خپلواکې اداري سره په همغږۍ کې د والیانو د مرستیالانو تش بستونه د آزموینو او د وېډیو ټیپ مرکو له لارې ډک کړي دي. رپوټونه څرګندوي چې د والیانو د مرستیالانو له ۳۴ تشو بستونو له جملې نه ۱۷ نومورې بستونه د وړتیا پر بنسټ د ګمارنی له لارې ډک شوي او ۱۷ کسه نور د آزموینې لپاره په لنډ لړلیك یا لست کې غوره کړی شوي دي. که څه هم په ډېری مواردو کې هماغه کسان چې د والیانو د مرستیالانو په دنده یی خدمت کاوه بیا دې دندې ته غوره شوي دی او دا چاره د څرګندوي چې چې دا یو تشریفاتي کار وو.

***۹ (۲) د جمهوري ریاست د ټولو هغو نا اجرا شوو فرمانونو او حکمونو لست دې د وزارتونو او ادارو له تحلیل سره برابر او د وزیرانو شورا ته یی دې وړاندې کړي. (۲ میاشتې) (د چارو اداره)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>:** ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د چارو اداره د څارنې او ارزونې یوه څانګه لري چې په ۱۳۸۵ کال کې تشکیل شوې او مهمه دنده یی دا ده چې له ټولو فرمانونو، مصوبو او حکمونو له پلی کیدو څخه څارنه وکړي. نومورې څانګه یو ډېټابیس لري چې په هغو کې د نومورې څانګې له تشکیلیدو څخه تر اوسه ټولې پریکړې په کې ساتل کیږي. که څه هم نومورې څانګه له ۱۳۸۵ کال مخکې له دې امله کوم اسناد او مدارك نه لری چې د وزیرانو د شورا د دارالانشا په تشکیلاتي چوکات کې یی کار کاوه او نومورې دارالانشا هغه وخت کوم الیکترونیك سیستم نه درلود او دوی د موجودو اسنادو کومه ارزونه هم ترسره کړې نه ده.

د چارو د اداری د څارنې او ارزونې د څانګې لخوا د برابرې شوې احصایې له مخې، په ۱۳۹۰ کال کې د صادرو شوو فرمانونو او حکمونو ۵۷ سلنه پلي شوي، ۲۵ سلنه د تطبیق او پلي کیدو په درشل کې دي او پاتې ۱۸ سلنه له سره پلي شوي نه دي. په همدې توګه له ۱۳۸۵ – ۱۳۹۰ کال پورې ټولې شمیرې په دې ډول دي: ۷۳ سلنه پلي شوي دي ، ۱۵ سلنه د پلي کیدو په درشل کې دي او۱۲ سلنه پلي شوي نه دي.

د دې دلیل چې ولې ځنې فرمانونه، مصوبې او حکمونه پلي شوي نه دی، د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC) ته ویل شوي نه دی او نه هم د څارنې او ارزونې د څانګې لخوا ناپلی شوو مادو د ماهیت په اړه کوم تفصیل برابر کړی شوی. دا وضعیت د کمیټې لپاره ناشونې کوي چې د دې کار علت په دې توګه و ارزوي چې آیا په دې برخه کې سیستماتیکې ستونزې روانې وې او یا دا چې د اداري فساد ضد هڅې مختلې شوې وې.

***۱۱ (۲) د کمیسیون جوړښت او د تعییناتو د بورد او د ملکي خدمتونو د لوی ریاست په ګډون دې د ټول پرسونل ټاکنو ته بیا کتنه وشي او د لوړو معیارونو او د استخدام د شرایطو په پام کې نیولو سره دې د داخلي اصلاحاتو په هکله ځانګړې طرحې د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي. (۱ میاشت) ( د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو خپلواك کمیسیون)***

<u>وضعيت او ارزونه</u>: ***تر يوه بريده يا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د خپلواك کميسيون د ارزونې موضوع دنوموړي کميسيون د څارنې او مراقبت د کميټې رييس ته سپارل شوې ده چې پلې يې کړي. د توپيرونو د کچې د راکمولو لپاره د ۶ پاڼو يو رپوټ طرح شوی دی. د اصلاحاتو کميسيون لاندې ۴ اصلاحات يا سمونونه پيشنهادوي او که د ولسمشر لخوا منظور شي نو پلي به شي:

1. د اصلاحاتو کميسيون دې په دوو برخو ووېشل شي يوه برخه يی دې د ملکي خدمتونو کميسيون وي چې د لوړپوړو دولتي چارواکو د ګمارنی او د ټيټ پوړو مامورينو د استخدام د څارنې مسؤليت ور دې غاړې وي؛ او د سمون يا اصلاحاتو او د وړتياوو دلوړلولو يو انستيتيوت چې د کړنلارې، تګلارې او د مامورينو د وړتياوو د لوړولو د اړونده چارو دنده ولري؛
2. د ټاکنو د بورد د کارپوهانو، د ملکی خدمتونو د کارپوهانو او کمشنرانو په ګډون دې ټول پرسونل و ارزول شي تر څو په لوړو معيارونو سره د کارپوهانو او د بورد د غړو د کارګومارنې يا استخدام په برخه کې مرسته وشي.
3. د ملکي خدمتونو د يوې لوړې کچې مقررې پلي کول او د بشري سرچينو د منجمنټ د ښه والي او د وړتياوو د کچې د لوړولو له لارې د اړونده چارو څارنه.
4. د دولت د ملکي مامورينو لپاره د دندې د خونيتوب (job security) او د شموليت د آزموينو ترويجول او په ټولو اړونده ادارو له لارې د وړتياوو د لوړلو لپاره پانګه اچول

### ***۱۲ (۱) د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره د رای ورکونکو د نومونو د ثبتولو طرحه ترتيب او د وزيرانو شورا ته يی دې وړاندې کړي. (۱ مياشت) (د ټولټاکنو کميسيون)***

<u>وضعيت او ارزونه</u>: **تر يوه بريده يا په قسمي توګه پلې شوې ده.** د افغانستان د ورستيو ټول ټاکنو رپوټونه څرګندوي چې ښايي د رای ورکولو په مليونونو اضافي کارتونه د ثبت شوو رای ورکونکو د تصديقولو په نه شتون کې صادر شوي وي. د فرمان د ۱۲ مادې (۱) بند د ټاکنيو له کميسيون نه غواړي چې د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره د رای ورکونکو د ثبت يو پلان جوړ او د وزيرانو شورا ته يی دې وسپاري. نوموړي کميسيون د رای ورکونکو د نومونو د ثبت مسوده ترتيب کړې ده خو د وزيرانو د شورا لخوا د لګښتونو، امنيتي انديښنو او د الکترونيکي تذکرو د وېش د پروسې د وخت په دليلونو رد شوه.

د ټاکنو خپلواک کميسيون په دې وروستيو کې اعلام کړی چې په پخوانيو ټول ټاکنو کې د رای ورکولو کارتونو او د وېشلو په درشل کې اليکترونيکي تذکرو ته به په راتلونکو ټول ټاکنو کې اجازه ورکړي. د کميسيون رئيس وويل چې کميسيون به د جعلي کارتونو د تشخيصولو وړتيا ونه لري. په تيرو ټول ټاکنو کې د درغليو پراخه کچه، د رای ورکولو د کارتونو په تثبيتولو کې کمزوري به په راتلونکو ټاکنو کې د اداري فساد له انده د زيانمننې ستري موکې برابری کړي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډه کميټه په دې اړه اند يښنه لري چې د هرې ولسوالۍ او علاقدارۍ په کچه د ثبت يو مرکز به د دې لپاره بس او کافي نه وي چې د ټولو کارتونو د تصديقولو او داخلي بيځايه شوو کسانو او هغو کسانو ته چې خپل کارتونه يی ورك کړی دي د نوو کارتونو

د صادرولو یا وېشلو اړونده چارې دې سمبال کړي. په همدې توګه به بیلابیلو لوژستیکي او امنیتي ستونزې اړونده مرکزونو ته د کارتونو د تصدیقولو لپاره د خلکو د سفر کولو مخه ونیسي.

***۱۲ (۲) رڼه او منظم داسې ټاکنیز پروګرامونه دې جوړ کړی شي چې د خلکو ګډون په کې ډاډمن شي او د جمهوري ریاست، ملي شورا او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره دې، جامع مهالوېش برابر کړي. ( درې میاشتې) ( د ټاکنو کمیسیون)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>: په بشپړه توګه پلې شوې ده.** د ټول ټاکنو د قانون سره سم، د ټاکنو خپلواک کمیسیون مکلف دی چې د ټاکنو له ورځې ۱۲۰ ورځې مخکې د ټاکنو مهال وېش چمتو او اعلان کړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ولسمشرۍ، ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره خپل ټولیز مهال وېش اعلان کړ چې هغه به د ۱۳۹۳ کال د ورې په ۱۶مه نیټه دایرېږي. پارلماني او د ولسوالیو اړونده ټاکنې به تر ۱۳۹۴ کاله پورې دایرې شي. له دې امله، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دې لپاره لا وخت لري چې نوموړی مهال وېش د قانون له مخې اعلان کړي.

***۱۳ (۵) د هېواد په مرکز او ولایاتو کې دې د وړ ښوونکو او د آزادې سیالۍ او د وړتیاوو د آزموینو له لارې دې د ۱۰۰۰۰ تنو نورو ښوونکو د ګمارنې په اړه اقدام وکړي او هره میاشت دې د وزیرانو شورا ته په دې اړه رپوټ وړاندې کړي. (۶ میاشتې) ( د پوهنې وزارت)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>:** ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د پوهنې وزارت ویلي چې دا دنده لا د مخه بشپړه شوې ده. سربیره پر دې نوموړي وزارت د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته خبر ورکړی چې دوی د ۴۰۰۰۰ نورو اړتیا وړ ښوونکو د ګمارنې د بهیر په بشپړولو بوخت دي. د پوهنې وزارت یوه کړنلاره لري چې د هغو له مخې هغه کسان د ښوونکی په توګه په کار ګوماري چې د پوهنتون د لیسانس او یا د ۱۴ ټولګي د فراغت سند ولري. هغه کسان چې نوی له ۱۲ ټولګیو څخه فارغ شوي وی، د ښوونکي په توګه په کار نه ګومارل کیږي. په دې سربیره نوموړي وزارت په دې پیل کړی چې اړونده ښوونکو ته د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه روزنه ورکړي.

***۱۶ (۲) د هېواد په بازارونو کې د درملو د تولید او واردولو بهیر له کمي او کیفي پلو وڅېړي، خپلې مشخصې نظریې او اصلاحي وړاندیزونه دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. (۶ میاشتې) ( د عامې روغتیا وزارت)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>: په بشپړه توګه پلې شوې ده.** د عامې روغتیا وزارت په دې وروستیو کې خبر ورکړی چې دوی ۸۰ هغه شرکتونه ارزولي دي کوم چې دواګانې تولید یا هیواد ته واردوي، له هغې جملې نه **۱۵** داسې شرکتونه تشخیص شول چې هیواد ته د ټیټ کیفیت دوا راوړي او د هغې جملې نه **۹** شرکتونه څارنوالۍ ته معرفي شویدی.

***۱۷ (۳) د ټوکیو د کنفرانس د ژمنو د تعقیبولو طرحه دې جوړه او عملي کړي او د چارو له پرمختګ نه دې د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي. (۲ میاشتې) ( د مالیې وزارت)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>: په بشپړه توګه پلې شوې ده.** د ټوکیو د کنفرانس د پرېکړو د پلي کولو په موخه د مالیې وزارت د ۱۳۹۱ کال د زمری په میاشت کې د وزیرانو د شورا دارالانشاء ته یو وړاندیز لیږلی دی. په ټولیزه توګه نوموړی وړاندیز داسې طرح شوی چې د توکیو د کنفرانس د چوکاټ د پلي کیدو لپاره یو جوړښت یا میکانیزم رامنځ ته شي. نوموړی وړاندیز د توکیو کنفرانس د ژمنو د پلي کیدو په اړه دری مهمې اجزاوې لري: ۱) د همغږۍ خپلواك بوردونه او کمیټې باید د دې پروسې له پلي کیدو څارنه وکړي، ۲) په ۱۳۹۲ کال کې به د لوړپوړو چارواکو یوه غونډه دایره شي تر څو د توکیو د کنفرانس په چوکاټ کې پرمختګ و ارزوي، ۳) به ۱۳۹۳ کال کې به د وزیرانو په کچه یوه غونډه دایره شي چې د توکیو د کنفرانس په چوکاټ کې پرمختګ و ارزوي او اړونده معیارونو ته له سره کتنه وکړي.

د نوموړی وړاندیز له مخې د ټوکیو د کنفرانس په چوکاټ کې یوه دارالانشاء د مالیې وزارت د پالیسۍ د څانګې په تشکیل کې جوړه شوې چې په هغو کې د مالیې وزارت معین، د ستراتیژیکو پلانونو لوی رئیس او د افغانستان د ملي تګلارې د سکرتریت رئیس غړیتوب لري. اړونده وزارتونه به دې دارالانشاء ته د پرمختګ په اړه رپوټ ورکوي او د پالیسۍ څانګه به افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ته د رپوټ ورکولو مسؤلیت په غاړه لري. داسې ویل کېږي چې نړیواله ټولنه به یو ورته جوړښت چې د د یونما (UNAMA) د اداري لخوا به اداره کیږي رامنځ ته کړي. تر اوسه د مالیې وزارت او مرستندویانو ترمنځ ګڼ شمیر مقدماتي غونډې جوړې شوې دي.

***۱۷ (۶) د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمیسیون په همکارۍ د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د معاشونو د یوشان کولو په هکله طرحه جوړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. (۳ میاشتې) (د مالیې وزارت)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>: په بشپړه توګه پلې شوې ده.** د مالیې وزارت د اداري اصلاحاتو له کمیسیون سره په همغږۍ کې ګن شمیر غونډې دایرې کړې او د ملکي مامورینو د معاشونو د یوشان کولو لپاره یې یوه طرح جوړه کړې ده. په دې طرح کې دری وړاندیزونه مطرح شوي دي چې هغه عبارت دي له : د اصلاحاتو راوستل او د معاشونو بدلون؛ د ورته مقررو ترتیبول او د یوه څیړندویه واحد رامنځ ته کول چې د ملکي مامورینو د معاشونو به اړه څیړنې تر سره کړي. دا طرح د وزیرانو شورا ته لیږل شوې او یوه کاپي یې د اداری فساد پرورګاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې په واك کې هم ورکړل شوې ده.

***۱۷ (۷) د دولتي عوایدو د مجموعې ښه والي او د داسې بودجې د پراختیا او اجرا لپاره د اړوندو وزارتونو د ظرفیتونو د لوړولو طرحه چې د اړتیاوو د تلفیق او ملي لومړیتوبونو ځواب ویونکې وي جوړه او له نوو عایداتي سرچینو سره معرفي کړي. (۳ میاشتې) ( د مالیې وزارت)***

**<u>وضعیت او ارزونه</u>:** ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د مالې وزارت د یوه داسې پلان مسوده یې ترتیب کړې چې د هغو په پلي کیدو سره به د عوایدو اړونده چارې او د دولتي ادارو ظرفیت ښه والی ومومي. نوموړې پلان د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې سره هم شریك شوی دی. په نوموړي پلان کې دری سرچینې نغښتې دي: الف) د مالیاتو راټولول، ب) د دولتي ادارو څخه د عوایدو

راټولول، او ج) د ګمرکاتو عواید. په دې پلان کې ۴۰ سپارښتنې شته چې د دریو واړو ساحو لپاره په پام کې نیول شوې دي، خو په دې پلان کې اوسنی وضعیت، موخې او لنډمهاله او اوږد مهاله کمیټي او کیفیتي پایلې تشریح شوی نه دی. له دې ټولو سره که د مالیې په وزارت کې سپیڅلي او له فساد نه پاك سیستمونه رامنځ ته نه شي، نو د عوایدو د کچې د لوړولو بهیر له ګواښ سره مخامخ دی.

***۱۸ (۱) د اړتیاوو او د هیواد د سوداګری د حجم پر بنسټ، په بیلابیلو هیوادونو کې د سوداګری د آتشو د شمیر او د هغو د ټاکنې د میکانیزم په اړه د وزیرانو شورا ته ریپوټ وړاندې کړي. (۱ میاشت) (د سوداګری وزارت)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د تجارتي آتشو لپاره په ځانګړي هیواد کې د اړتیاو او د سوداګری له حجم سره سم یو میکانیزم طرح او چارو اداري ته استول شوی دی. د سوداګری وزارت څرګندوي چې یو کمیسیون یې جوړ کړی چې په هغو کې د چارو د ادارې، د بهرنیو چارو د وزارت، د مالیې د وزارت او د ملکی خدمتونو د کمیسیون استازي ګډون لري. نوموړي کمیسیون د تجارتي آتشو فعالیتونه ارزولي او د ۱۳۹۲ کال لپاره یې د هغو شمیر کی ۱۸ تنه کموالی راوستی دی.

***۱۹ (۱) د ښاروالیو د پروژو په شمول د انکشافي پروژو د څارنې لپاره مشخصې طرحې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. (۱ میاشت) (د اقتصاد وزارت)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: **په بشپړه توګه پلې شوې ده.** د اقتصاد وزارت د ښاروالیو د پروژو په ګډون د ټولو پرمختیایی پروژو د څارلو لپاره یو هراړخیز میکانیزم برابر کړی او نوموړی پلان یې د چارو د اداري ریاست ته سپارلی دی. نوموړی پلان د وزیرانو د شورا لخوا منظور شوی او کاپی یې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې په واك کې ورکړل شوې ده. دا میکانیزم په څلورو څپرکو کې ترتیب شوی او که په سمه توګه پلی شي، ښایی د نوموړو پروژو د پلي کولو په کار کې به اغیزمن وي. په دې میکانیزم کې په بیلابیلو پړاونو کې د پروژو څارل او په همدې توګه د پروژې د مالك، تړون کوونکو او د څارونکو ادارو مسؤلیتونه ټاکل شوي دي. نوموړی میکانیزم د اقتصاد له وزارت څخه غواړی چې د پرمختیایی پروژو له پلي کیدنې څخه څارنه وکړی. به همدې توګه نوموړي وزارت د ۱۳۹۲ – ۱۳۹۳ کلونو لپاره د څارنې اړوند یو کاري پلان هم ترتیب او شریك کړی دی او د هغو له مخې به د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د پرمختیایی پروژو کار وڅارل شي.

***۱۹ (۲) د مالیې او مخابراتو او معلوماتي تکنالوجی د وزارتونو په همکاری دې ټول حکومتی تړونونه چې د تیرو دریو کلونو په په موده کې له ملي او نړیوالو کمپنیو او مؤسسو سره تړل شوي د تړونونو له ټولو جزییاتو سره (د تړونونو په لنډیز دې اکتفا نه کیږي)، د ویب پاڼو او اړوندو بنسټونو له لارې خپاره کړی شي. (۳ میاشتې) (د اقتصاد وزارت د مالیې او مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی د وزارتونه)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د افغانستان د بیارغونې او پرمختیا د خدمتونو اداره (ARDS) له هغه وروسته چې له ټولو ادارو نه یې وغوښتل چې خپل تړونونه ورته ولیږي، اوس ټول تړونونه خپروي. یوازې د بهرنیو چارو وزارت، د سوداګرۍ وزرارت او کابل ښاروالۍ د خپلو

تړونونو د شريکولو او خپرولو هوکړه نه ده کړې او د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونو وعده کړې چې خپل تړونونه به ډېر ژر وليږي خو تر اوسه داسې نه دي شوي.

د افغانستان د بيارغونې او پرمختيا د خدمتونو ادارې (ARDS) تر اوسه د خپلې وېب پاڼې له لارې څه د پاسه ۱۲۰۰ تړونونه خپاره کړي. داسې ښکاري چې دا د روڼتيا او مسؤليت منلو په لور يو مثبت ګام وي. سره له دې، داسې معلوميږي چې ډېرى هغه تړونونه چې خپاره شوي د هغو ټولو تفصيلاتو او جزيياتو درلودونکی نه دي او ځنې خويی بې له کوم متن نه خپاره شوي. سربيره پر دې د تړونونو ځنې اسناد په بشپړه توګه نه دي خپاره شوي ، بلکه يوازې يو لنډيز يا عمومي شرايط يی خپاره شوي. په همدې توګه ګڼ شمير تړونونه مل پاڼې يا ضميمې نه لري او يوازې نوم او د ترون بيعه خپره شوی ده.

***۲۰ (۱) د هيواد د هوايي ډګرونو له لارې د اسعارو پر وتلو د څارنې کړنلاره پلې او د پايلو په اړه يې د جمهوري رياست مقام ته رپوټ وړاندې کړي ( ۱ مياشت) ( د افغانستان بانک)***

<u>**وضعيت او ارزونه**</u>: ***تر يوه بريده يا په قسمي توګه پلې شوې ده.*** د نوموړې کړنلارې د پلي کيدو په موخه د افغانستان بانك له سرحدي پوليسو او د ګمرکي خدمتونو له ادارو سره يو هوکړه ليك لاسليك کړی او د مالي استخباراتو څانګه په هوايی ډګرونو کې يو استازی لري.

د کابل په هوايی نړيوال ډګر کې، سرحدي پوليسو د امريکې د نړيوالې پراختيا د ادارې (USAID) او نورو نړيوالو مؤسسو په مرسته د پيسو وينځلو او د قاچاقولو د مخنيوي د اړونده لارو چارو په اړه د زده کړې روزنيز کورسونه په لاره اچولي دي. په همدې توګه دوی بيلابيل تدبيرونه ترلاس لاندې نيولي چې د نوموړې کړنلارې له محتوياتو سره د اړونده کارکونکو د بلدېدو او د پيسو د قاچاقولو د پېښو د قانوني تعقيب په موخه د پوښتنو او ګروېږنو د طرزالعملونو د زده کړی له لارې د اړونده پوليسو د وړتياوو کچه لوړه شي.

که څه هم سرحدي پوليسو د پيسو د ليږد يا انتقال د اړونده چارو د تنظيم لپاره په کړنلاره کې د نغښتو احکامو د پلي کيدو هر کلی وکړ، خو دوی د ځنو نا تعريف شوو ټکو په اړه هم خپلې اندېښنې ثرګندې کړې. د بيلګې په توګه د اصلو پيسو او له سرحدونو نه د انتقال وړ د ۲۰۰۰۰ ډالرو د مجاز حد د سموالي د تصديقولو لپاره د غوښتنې نه شتون. هغه معلومات چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کميټې ته رسيدلي، څرګندوي چې ځنې سوداګريز شرکتونه له خپلو کارکونکو سره يو ځای دوبۍ ته يو لړ سوداګريز سفرونه سمبالوي او د هغو په ترڅ کې خپل هر کارکونکي ته ۲۰۰۰۰ ډالر ورکوي چې په قانوني توګه يی له هيواد څخه بهر ته وليږدوي. پوليس نه شي کولی چې د دې پيسو اصلي سرچينه او اصلي خاوند وپيژني، چې دا د اندېښنې وړ يوه موضوع ده.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کميټې وليدل چې په هوايی ډګرونو کې د پيسو د شميرلو ماشينونه په مناسبه توګه نه کارول کيږي، نوموړي ماشينونه په يوه تنګ او نا امنه ځای کې ايښودل شوي دي، چې په آسانۍ سره د لاسرسي وړ نه دی او د څارنې او مراقبت کومه وېډيويی کمره هم نه لري. د پيسو د شميرلو ستر ماشين له انټرنټ يا کوم بل داسې سيستم سره نه وو نښلول شوی چې د اړونده مدارکو او معلوماتو د څارلو او ثبتولو وړتيا وروښيي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې ته خبر ورکړل شوی چې د کړنلارې د طرحې او د هغو د منظورېدو په پړاو کې د افغانستان بانك له هغو کسانو سره سلا مشوره نه ده کړې چې په نیغه توګه له سرحدونو نه د ناقانونه پیسو د لېږد د مخنیوي او د هغو د کشفولو دنده په غاړه لري. له دې امله د سرحدي پولیسو تجربې او نظرونه ټکي باید په اړونده کړنلاره کې ځای کړی شي تر څو د اړونده چارو په ترسره کولو کې د لوړې کچې اغیزمنتوب رامنځ ته شي. د افغانستان بانك باید له نږدې څخه د اړونده کاري ډلې سره کار وکړي چې له سرحدي پولیسو، ګمرکي کارکونکو، استخباراتو او نورو هغو ښکیل یا ذیدخله کسانو او ادارو نه جوړه شوې چې په نیغه او یا هم غیر مستقیمه توګه د اړونده کړنلارې د سند په پلي کولو کې ونډه اخیستې شي.

***۲۱ (۵) د هیواد د کانونو په تړونونو کې د روڼتیا د ډاډمنولو لپاره مشخصه طرحه بشپړه او د وزیرانو شورا ته یې دې وړاندې کړي. د نړیوالو منل شویو اصولو پر بنسټ په تړونونو کې روڼتیا او د هیواد راتلونکې ته پاملرنه دې د کار په لومړیتوبونو کې راولي او د تړونونو ټول جزییات دې (د تړونونو په خلاصه دې اکتفا نه کېږي) د کانونو، مالیې او اقتصاد وزارتونو د وېب پاڼو له لارې خپاره کړي. (۳ میاشتې) (د کانونو وزارت)***

<u>**وضعیت او ارزونه**</u>: ***تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلي شوې ده.*** د منرالي زېرمو یا کانونو د رااېستلو یا استخراج په اړه کړنلاره طرح شوې او د وزیرانو د شورا لخوا مظوره شوې ده چې په هغو کې د روڼتیا او حساب ورکونې په اړه ځنې عبارتونه نغښتي دي. د کانونو وزارت د یو شمیر هغو با اعتباره کمپنیو خدمات پیرودلي دی چې د کانونو د سکتور په اړونده معاملو کې تخصص لري . په همدې توګه نوموړې وزارت یوه حقوقي څانګه چې دوې برخې لري تشکیل کړې ده. چی په هر برخه کې ۴ حقوقي کارپوهان او یو مدیر کار کوي. اوسمهال حقوقي څانګه ټول ۱۱ کسه پرسونل لري چې په هغو کې رئیس هم راځي. په همدې توګه نړیوال بانك دوه قانون پوهان د دې څانګې لپاره ګمارلی او د کانونو وزارت په پام کې لري چې یو بل نړیوال قانون پوه هم په کار وګوماري. د کانونو وزارت خپلو ټولو تړون کوونکو او فرعي تړون کوونکو ته په اړونده تړونونو کې د اداري فساد ضد غوښتنې شاملوي. له ۱۳۸۹ کال نه را په دې خوا په ټولو تړونونو کې یو عبارت شته چې له اړونده تړون کوونکو غوښتنه کوي چې د افغانستان د استخراجي صنایعو د اداري د روڼتیا دارالانشاء ته دې د هر ډول اداري فساد په اړه رپوټ ورکړي.

د کانونو وزارت د کانونو اړوند څه دپاسه ۲۰۰ تړل شوي تړونونه چې د عینکو د مسو له مهم تړون پرته ټول اړونده تړونونه رانغاړي، په خپله وېب پاڼه کې خپاره کړي. د عینکو د مسو اړونده تړون په شعوری او قصدي توګه له دې امله نه دی خپور شوی چې په مل پاڼو یا منضمه هوکړه لیکونو کې ځنې محرم موضوعات موجود دی چې تر اوسه د هغو په اړه خبرې اترې روانې دي، خو د کانو وزارت دې ته ژمن دی چې نوموړی تړون به له هغو وروسته خپروي چې پورتنی هوکړه لیکونه بشپړ شي. سره له دې ځنې هغه تړونونه چې د وزارت په وېب پاڼه کې خپاره شوي، ځنې توپیرونه په ګوته کوي. د بیلګې په توګه د ځنې تړونونو اړونده اسناد د معیاري تړون غوښتنې نه پوره کوي، هغه یوازې په دریو څلورو مخونو کې ځای کړی شوي او د دواړو لورو لپاره کافي احکام، د وخت او شرایطو محدودیتونه نه لري. د اداری فساد پروړاندی د څارنی

او ارزونې خپلواکه او ګډه کمېټه به د نوموړي وزارت سره په تماس کې وي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د نوموړې تړون د خپرېدو کار په مناسب وخت کې ترسره کیږي.

***۲۴ (۳) د ټولو نیمه کاره پروژو لست دې د هغو د کار د بیرته پاتې کېدو او د کار د درېدو د دلایلو په ذکرولو سره برابر او د وزیرانو شورا ته یې دې وړاندې کړي. (۱ میاشت) (د ټولګټو چارو وزارت)***

**وضعیت او ارزونه**: *تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.* د نا بشپړو پروژو یو تفصیلي لست بشپړ او د چارو ادارې ته لیږل شوی دی. په نوموړي لست کې هغه ۳۵ پروژې شاملې دي چې د افغان دولت، د آسیا د پراختیا د بانك، اسلامي پراختیا بانك او د افغانستان د بیا رغونې له امانت صندوق لخوا تمویل شوې دي او هغه پروژې چې د نورو مهمو مرستندویانو لکه د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، د امریکې د پوځ د انجنیرانو د ډلې او د ولایتي بیا رغونې د ډلو (PRTs) لخوا پلې شوې دي د نوموړو ادارو د نه همکارۍ په وجه په دې لست کې شاملې نه دي. هغه ستونزې چې په پروژو کې د ځنډ سبب شوې عبارت دي له ناامنۍ، د هوا زړه یاخراب حالات، د اړینو موادو نه شتون، د ځمکو د ترلاسه کولو اړونده چارې، فرعي تړونونه، ناکافي طرح او ډیزاین او د همکارۍ نشتوالی، د یادولو وړ دي.

د ټولګټو وزارت یوازې دا کولی شول چې د دوی د وزارت د اړونده پروژو په اړه یو تفصیلي لست برابر کړي، ځکه چې نوموړی وزارت د نورو اړونده اړخونو د نه همکارۍ سره مخامخ دی او له دې امله نشي کولی په هیواد کې د ټولو پروژو اوسنی انځور په بشپړه توګه وړاندې کړي.

***۲۵ (۱) د ځمکني ترانسپورت د عوایدو د راټولولو، روڼ، جامع او تجدید شوی میکانیزم د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. (۳ میاشتې) (د ترانسپورت او ملکي هوایي چلند وزارت)***

**وضعیت او ارزونه**: تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده. د اداري فساد د کچې د راښکته کولو او د ځمکني ترانسپورت له درکه د دولت د عوایدو د کچې د لوړولو په موخه د ترانسپورت وزارت یو داسې میکانیزم ترتیب کړی که په سمه توګه پلی شي ښایي د اداري فساد او د عواید په کچو به مثبت اغیز ولري. د نوموړي میکانیزم موخه داده چې د اداري فساد کچه راښکته او د دولت د عوایدو کچه لوړه کړي. نوموړی میکانیز د چارو ادارې ته لیږل شوی خو تر اوسه د وزیرانو د شورا لخوا نه دی تصویب شوی.

***۲۵ (۵) په ټول پرسونل او تشکیلاتي جوړښت باندې بیا کتنه وکړي او په فساد اخته کدرونه دې تشخیص، ځانګړي تدابیر دې ونیول شي او د جمهوري ریاست مقام ته دې رپوټ ورکړي. (۶ میاشتې) (د ترانسپورت او ملکي هوایي چلند وزارت)***

**وضعیت او ارزونه**: **په بشپړه توګه پلې شوې ده.** د ترانسپورت وزارت څرګنده کړې ده چې دوی په دې اړه د یوې کمیټې د تشکیلولو له لارې لازم اقدامات تر سره کړي. د رپوټ له مخې د کمیټې غړو له بیلابیلو ولایتونو او په همدې توګه له کابل نه لیدنه وکړه او د خپل اړونده پرسونل فعالیتونه یې و ځارل. کمیټې ځنې تشې تشخیص او د اصلاح غوښتنه یې کړې. به همدې توګه دوی ځنې مفسد مامورین له کاره ګوښه یا

تبدیل کړي هم دي. نوموړي وزارت ژمنه کړې چې نوموړی رپوټ به د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې سره شریکوي خو تر اوسه دا کار نه دی شوی.

***۲۷ (۲) د عدلیې او کورنیو چارو وزارتونو، لویې څارنوالۍ، له اداري فساد سره د مبارزې د ستری اداري او د سیمه ایزو ارګانونو دخپلواکې اداري په مرسته دې د هیواد په کچه (په لومړي ګام کې په لومړی درجه ولایتونو او بیا په نورو ولایتونو کې) د لاندی شوو دولتی او شخصي املاکو په اړه کره معلومات را ټول او د پرېکړې لپاره یې دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. (۳ میاشتې) (د کرهنې او مالداری وزارت / اراضي)***

<u>وضعیت او ارزونه</u>: *تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلې شوې ده.* د افغانستان د ځمکو عمومی ریاست (ARAZI) خپل رپوټ هغسې چې تر غوښتل شوی وو، د عدلیې او کورنیو چارو د وزارتونو، د لویې څارنوالۍ او د سیمه ایزه ارګانونو د خپلواکې اداري په مرسته ترتیب او استولی دی. خو نوموړي ریاست نه خپله رپوټ او نه هم د لاندی کوونکو نمونه په دې دلیل د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې سره نه دی شریك کړي چې په هغو کې نغښتي معلومات په لوړه کچه حساس وو.

د افغانستان د ځمکو عمومي ریاست (ARAZI) د افغانستان په ځنې سیمو کې لاندی شوې ځمکې او د لاندی کوونکو تفصیلات تثبیت کړي او په دې اړه یی د ولسمشر دفتر ته یو لست وړاندې کړي چې په لاندې کټګوریو یا ډلو وېشل کیږي:

1. ۱۶ کسه د ځمکو د لاندی کوونکو په ډله کې تر ټولو ستر لاندی کوونکی ګڼل کیږي چې په ټوله کې یی په ۱۳۸۹۹۶ جریبه ځمکه خیټه اچولې ده،
2. ۴۲ کسه داسې کسان دي چې تر ۱۰۰۰ جریبو ډېره ځمکه یی لاندی کړې او دوی ټولو په ۱۰۹۶۳۱ جریبه ځمکه خیټه اچولې ده،
3. ۲۶۰ کسه داسې کسان دي چې له ۱۰۰ – ۹۹۹ جریبو ځمکه یی لاندی کړې ده، دوی ټولو ۶۵۸۱۰ جریبه ځمکه لاندی کړې ده.
4. ۶۹۳ کسه هغه دي چې له ۱۰ – ۹۹ جریبو ځمکه یی لاندی کړې، دوی ټولو ۱۸۲۸۴ جریبه ځمکه لاندی کړې ده.
5. ۱۵۵۸ کسه هغه دي چې له ۱ –۹ جریبو ځمکه یی په لویو ښارونو کې لاندی کړې، دوی ټولو ۴۳۸۴ جریبه ځمکه لاندی کړې ده.
6. ۸۴۸ کسه هغه دي چې له یوه جریب نه یی کمه ځمکه لاندی کړې، دوی ټولو ۲۷۵ جریبه ځمکه لاندی کړې ده.
7. ۲۳۰۰۰۰ جریبه ځمکه د استوګنې په ۲۲۸ ښارګوټو کې، او
8. ۱۳۹ دولتي چارواکي دي چې ځمکې او نور املاك پرته له کوم قانوني واك یا اجازې کاروي.

د ستونزې د پراخوالي په اندازه باندې پوهیدل د ځمکې د لاندی کولو د ستونزې د هوارولو لپاره یوازې یو پیل شمیرل کیږي. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې دا پیدا کړې ده چې په افغانستان کې د ځمکو د لاندی کولو د دوام ستر لامل هماغه د سیاسی ارادې نه شتون دی چې دا ستونزه

هواره کړي شي او به همدې توګه د هېواد په ځنې سيمو کې نا امني، له مجازاتو نه د ځنې کسانو معافيت، په دولتي ادارو کې اداري فساد، د يوې هر اړخيزې تګلارې نه شتون، د دولت د يو شمير لوړپوړو چارواکو لخوا د ځمکې لاندې کول او له دولتي ځمکو څخه په اغيزمنه توګه د ګټه اخيستو په برخه کې د دولت کمزوري، د يادولو وړ لازملونه ګڼل کيږي.

اوس چې د ځمکې د لاندې کوونکو په اړه اړين معلومات له اړونده چارواکو سره شريك شوي، د چارواکو غبرګون به په دې اړه څرګنده کړي چې آيا د دې ستونزې د هوارولو لپاره رينښتنۍ سياسي اراده موجوده ده. د کرهنې د وزارت د معلوماتو له مخې په تير يوه کال کې ۶۰۰۰۰ جريبه دولتي لاندې شوې ځمکې بيرته ترلاسه شوې دي.

د ولسمشر دغه فرمان د دولتي چارواکو توجه دولتي او خصوصي لاندې کول شوو ملکيتونو ته اړوی، خو له بده مرغه خصوصي ملکيتونو ته د پام وړ توجه نه ده شوې. د ځنې لاسته راوړنو سره سره، د اراضۍ د ادارې په هڅو کې مهم محدوديت دا دی چې ډېره توجه دولتي لاندې شوو ځمکو ته اړولې، په داسې حال کې چې فرمان د خصوصي ځمکو په اړه هم صراحت لري. هيله ده چې کله د دې ستونزې دغه اړخ بشپړ شي، نو بيا به توجه د ستونزې بل اړخ ته واړول شي.

***۳۱ (۱) د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې د راستنېدونکو د نښارګوټو د عادلانه وېش په هکله وزيرانو شورا ته رپوټ ورکړي. (۳ مياشتې) (د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت)***

__وضعيت او ارزونه__: ***تر يوه بريده يا په قسمي توګه پلي شوې ده.*** نوموړي وزارت د چارو ادارې ته يو رپوټ برابر کړی خو د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کميټې سره يې تر اوسه نه دی شريك کړی. د دې وزارت غير رسمي رپوټونه څرګندوي چې يوې کميټې ته يې دنده سپارلې ده چې د هيواد د ولاياتو څخه ليدنه وکړی او مهاجرو او بيرته راستنو شوو کسانو ته دې د ځمکې د وېشلو څارنه وکړي. تر اوسه پورې ګڼ شمير ولايتي ماموريتونه ترسره شوي. د نوموړی وزارت د پاليسۍ او پلان د معيين تر مشرۍ لاندې د رئيسانو په کچه يوه کميټه په کابل کې د دې لپاره جوړه شوې چې نوموړي رپوټونه و ارزوي او موجودو ستونزو ته د هوارولو لارې پيدا کړي. سره له دې ځنې ستونزې په دې اړه په ګوته شوې. د بيلګې په توګه ولايتي آمرين او واليان او نور با نفوذه خلك اوس هم بيرته راستنو شوو مهاجرو ته د ځمکو د توزيع په کار کې لاسوهنه کوي، له خلکو رشوت اخلي او ټوپك سالارانو او دولتي چارواکو ته ځمکې وېشي. په عمومي توګه راستنو شوو مهاجرو ته د ځمکو د توزيع په اړه بايد يوه خپلواکه تصديقي کتنه ترسره شي.